UNDERVISNINGS
MINISTERIET



# زده كړه –
# ستاسي د اولادو
# راتلونكي

**زده کړه – ستاسي د اولادو راتلونکي**


د چاپ حق: د پوهني وزارت

د کار وزارت په همکاري سره خپري شوي ده

د تحریر هیئت: Schultz

د ګرافیک پروګرام جوړونکي: Falk og musen

عکسونه:
یاکوب ډال: پاڼه 13, 39, 43, 44
ولریک یانټسن: پاڼه 23, 24, 27, 52
لارس سکنیګ: ټول نور عکسونه

ماخذ: منخني عاید په دغو پاڼو کي 16-36: د 2013م کال د DA د شمیرني، او د کار او ټولنیز لوي ریاست

موضوعګانی د پوهني وزارت د موادو څخه اخستل شوي دي: په ډنمارک کي د تخنیکي او مسلکي زده کړو په هکله د پلار او مور د پاره مالوماتونه، 2008م کال

نقل قولونه (ګټوري مشوري) په 2014م کال د هغي مرکي چي د شولتس لخوا جوړي شوي وي، اخستل شوي دي

ISBN
زده کړه – ستاسي د اولادو راتلونکي د چاپ شوي
د بروشور د ثبت شمیر: 978-87-603-3017-9
زده کړه – ستاسي د اولادو راتلونکي په انټرنیټ کي
د ثبت شمیر: 978-87-603-3018-6

دا بروشور کولاي شي په دغي ویبپانو کي ډونلود کړی: uvm.dk او ug.dk

چاپ : Rosendahls-Schultz Grafisk

په 2014م کال په ډنمارک کي پرینت شوي ده

ژباړونکي: د ډنمارک د کډوالو ټولني دارالترجمه، اسد سماک

# محتوا

| | |
|---|---|
| سریزه | 3 |
| ستاسو اولادو باید زده کړه وټاکي | 4 |
| لاربښووني او مرسته | 6 |
| زده کړه ځوانانو دپاره | 8 |
| تخنیکي اومسلکی زده کړي – زده کړه د کار د پاره | 12 |
| د تخنیکي او مسلکي زده کړه سره ځوان دا کارونه موندلاي شي | 16 |
| ثانوي دوره او Hf – د نورو زده کړو دپاره چمتووالي | 37 |
| د زده کړي دپاره نوري زده کړي او چمتووالي | 46 |

# سریزه

## - مهمه دا ده چي ستاسي اولادو یوه زده کړه وکړي

- مهمه دا ده چي ستاسي اولادو یوه زده کړه وکړي
د پلار او مور په توګه کله چي ستاسي اولادو د نهم ټولګي نه وروسته باید یوه زده کړه پیل کړي، تاسي یو لوی رول لوبوي.
مهمه دا ده چي تاسي خپل اولادو د زده کړی د سم ټاکني په برخه کي ورسره مرسته وکړي، چي د هغه د نظر نه په زړه پوريې وي. د زده کړی ډیري څانګي دي چي د هغي له مینځ نه باید وټاکي. په همدی وجه دا یو غټ چلینج دي، چي تاسي باید د بیلابیلو امکاناتو په هکله یو ه کتنه ولري.

مونږ غواړو چي ددغه بروشور په مرسته سره لار وښیو، تر څو تاسو وکولاي شي خپل اولادو سره دده د زده کړي د ټاکني په برخه کي د ښي امکاناتو نه ګټه واخلی، چي ستاسو د اولادو علاقي او استعداد سره برابره ده.

ډنمارک په ټولو ساحو کي د ماهر کار ځواکونو ته اړتیا لري، مګر په دغو وروستیو کلونو کي داسي یو حالت رامینځته شوي دي، چي تخنیکي او مسلکي زده کړي څوک نه ټاکي. دا د خواښني خبري دي، ځکه چي په راتلونکي هغي ځوانانو ته چي مسلکي او تخنیکي زده کړي لري ته هم اړتیا ده. په دغه بروشور کي د هغو زیاتو امکاناتو په هکله پام شوي دي، چي کیداي شي ستاسي اولادو ته یو تخنیکي او مسلکي زده کړي برابري کړي.

په ټولو زده کړو کي یو شي ټولو ته یو دي، او هغه دادي چي په هر یو زده کړي د ځوانانو څخه ځیني غوښتني شته دي. هغوي باید په ټولګي کي حاضر وي، او ښه چمتووالي ولري. همدارنګه ځیني تخنیکي غوښتني هم شته دي، او کله چي تاسي او ستاسي اولادو د بیلابیلو زده کړو امکانات څیړي، باید هغوي ته هم پام وکړي.

مونږ یواځي کولاي شو چي تاسو ته څرګند کړو، وخت او انرژی ولګوئ، سره کیني او بیلابیلي زده کړي، او دا چي څه غوښتني لري، هغوي په ګډه سره ارزوني وکړئ.

د نورو مالوماتونو د لاسه ته راوړلو دپاره دغي ویبپاڼو ته مراجعه وکړئ:
UddannelsesGuiden, ug.dk, eVejledninge.dk
یا د ځوانانو د زده کړي سیمیز لارښووني مرکزونو UU څخه مالومات تر لاسه کړئ.

تاسو ته موفقیت غواړو

په درناوي

Christine Antorini او Henrik Dam Kristensen

د پوهني وزیر — د کار وزیر





# ستاسي اولادو
# باید یوه زده کړه وټاکي

**یوه زده کړه لرل مهمه ده. یوه زده کړه تاسي په خپلو پښو دروي، او د یو سم کار پیدا کول، او د ښي تنخا تر لاسه کول امکان برابروي. همدارنګه زده کړه په ټول عمر کي د شخصیت د ودي او پرمختګ په برخه کي یو غټ رول لوبوي.**

تاسي د پلار او مور په توګه د خپل اولادو د زده کړي د ټاکني په برخه کي ډیر زیات اغیزي لري. په همدي وجه دا مهمه ده چي تاسي د ډنمارک د بیلابیلو زده کړو او د کار بازار په هکله یو څه مالومات ولري، تر څو وکولای شي خپل اولادو د زده کړي په ټاکنو کي مرسته وکړي. زده کړي باید ستاسي د اولادو علاقه او استعداد سره برابري وي. په دی توګه د زده کړي پیل آسانه کیږي – او زده کړي پاي ته رسیږي.

دا نورماله ده چي تاسي د پلار او مور په توګه د خپل اولادو د زده کړي نه هیلي لري. د یوه خوا نه مهمه ده چي ستاسي هیلي باید دومري زیاتي نه وي، چي اولادو دی و نه شي کولای هغه تر سره کړي، او خپل زده کړي پریږدي او د بلی خوا دومره ټیټي نه وي چي هغه زوي/ لور دی هغه چلنجونو سره چي هغي ته اړتیا لري، ورسره مخامخ نشي.
دلته د انډوال ساتل خبره ده.

### د ځوانانو څخه غوښتني

زده کړه د ځوانانو څخه غوښتني لري. دوي باید په ټولګي کي فعاله وي، دوي باید ښه چمتووالي ولري، او دوي باید وکولای شي، هغي وظیفي چي ورکول کیږي، هغي حل کړي.
د زده کړي په بهیر تسټونه او امتحانونه اخستیل کیږي، چي ښه چمتووالي غواړي.
همدارنګه په کور کي هم زیات زیار او کوښښ لازمه ده.

د زده کړي پیلول یو اوچت ګام دي. ځوانان د خپل پلار او مور مرستي او ملاتړ ته اړتیا لري.

### د مشر کیدو په لار

ځوانان د مشر کیدو په لار روان دي. دوي خپل ډندي او مسوولیتونو په غاړه نیسي. دوي باید خپل ودي او پرمختګ ته سمون ورکړي، دوي باید د خپل انډوالونو په مینځ او د خپل چاپیریال کي ځان څرګند کړي – خپل هویت پیدا کړي. دوي باید په زیاتو برخو کي تصمیم ونیسي. زده کړه یو د هغوي څخه ده.

زده کړه، کار او هویت سره تړلي دي:

- زه څوک یم؟
- غواړم چي څوک وشم؟
- زه څه غواړم شم؟

دوي د زده کړي په بهیر نورو ځوانانو سره په ګډه سره زده کوي او تجربي حاصلوي. دوي د یوي ډلي غړي وي، چي د خپلي زده کړي له لاري خپل هویت تثبیوي.

### خپل اولادو دپاره وخت پیدا کړۍ

وخت هغه بهترین شي دي چي تاسي د پلار او مور په توګه خپل اولادو ته، هغه مهال چي غواړي یوه زده کړه وټاکي، ورکوي.

وخت د دی پاره:

- د خپل اولادو د علاقي وړ خبري ته غوږ نیسي،
- د هغو شیانو په هکله چي زوي/ لور دی په کي شک لري، هغوي نه پوښتني وکړي،
- ډ هغو شیانو چي اولادو دی په کي ښه دي، بیان کړۍ،
- ګټوري مشوري ورکړۍ،
- هغه شی، چي تاسي مختلفي ویني، په هکله وغږیږۍ.



- په هغو شیانو باندي چي اولادو دی شک لري، کوښښ وکړی ځواب ورته پیدا کړی،
- په هغو شیانو باندي چي تاسي په خپله نه پوهیږي، د کومک غوښتني وکړی،
- د زده کړي بیلابیلو امکاناتو ارزوني وکړي
- هغي کارونه چي د دغو زده کړو سره تر لاسه کیږي،
- د دی په هکله وغږیږی، چي کومي غوښتني دي، چي کیداي شي سم نتیجه ورکړي.

### زده کړه ژوند دپاره

د یوه زده کړي لرل سره، د دایمي کار موندل- او سم تنخا لرل امکانات بیخي زیات دي. همدا رنګه که څوک دا خیال لري چي خپل کارځاي پرانیزي، ښه ده چي د همدغه ځاي نه د یو سم پیل په توګه پیل وکړي.

د زده کړي ټاکل وخت نیسي، او همدارنګه زده کړي هم وخت نیسي. مګر دا یو ښه پانګه اچوني ده.

په سل هاو زده کړي دي چي باید دهغوي نه یو وټاکي. او د کار بیلابیل امکانات/ کاریر هم شته دي.

دغه بروشور تاسو ته د معمولي زده کړي په هکله مالوماتونه ورکوي،او دا چي تاسي په کومو برخو ورنه ګټه اخستلاي شي.
د زده کړو بیلا بیلو څانګي، او همدارنګه د لارښووني په هکله په بلي پاني ولوړی.

# لاربنووني او مرسته

**ټول ځوانان یو ډول نه دي. زده کړو او کار هم سره یو شان نه دي. دا د دی ارزښت لري، مخکي له دی څخه چي یوه زده کړه وټاکي باید په پام سره هغي امکانات چي موجودي دي، هغوي ارزوني وکړي. دا خورا ډیر سخت کار دي چي وکولاي شی د زده کړو بیلابیلي څانګي او د کار ټول امکانات، او دا چي دا زده کړي څه غوښتني لري، وڅیړي. زده کړه د ژوند د تامینولو دپاره یواځني ډاډمن لار دي.**
**زده کړه ځوانانو ته دا آزادي ورکوي، چي دوي په ژوند کي د خپل توان او استعداد نه ګټه واخلي.**

دلته د هغه لاري موندل دي چي ستاسي اولادو دپاره سمون خوري. په همدي وجه مهمه ده، چي یو لاربنود سره خبري وکړی، او د نورو مالوماتونو د تر لاسه کولو دپاره د اینترنیت څخه ګټه واخلي.

## په ښوونځي کي لاربنووني

ماشومان د خپل ښوونځي په ټول مهال د زده کړي په هکله خبري کوي. زده کوونکي د اوهم ټولګي څخه د ځوانانو د زده کړي ټاکني یو لاربنود سره خبري کوي (UU)، او هغه دوي ته د ځوانانو د پاره د زده کړي په هکله زیات مالوماتونه ورکوي، کله چي دوي د نهم او لسم ټولګي څخه خلاص شو، دوي ته څه امکانات برابري دي. د ځوانانو د زده کړي ټاکني لاربنود (UU) د پلار او مور په غونډو، او همدارنګه د زده کړي ماښامني غونډو کي ګډون کوي، او امکان لري هغه د کور- ښوونځي په غونډو، او نوري غونډي کي هم، چي د ماشوم د ښوونځي په هکله جوړیږي، ګډون وکړي.

(UU) خوانانو دپاره د زده کړي ټاکني لاربنوني مانا ورکوي.
د (UU) لاربنود یو مسلکی لاربنود دي، چي د زده کړي او کار په هکله زیاد پوهه لري.

امکان لري ځیني زده کوونکي یو څه زیات لاربنووني ته اړتیا ولري. د یو زده کوونکي په توګه یو لاربنود ته مراجعه وکړی، او د امکاناتو په هکله هغه څخه پوښتني وکړی.

## الکترونیکي لاربنووني

د الکترونیکي لاربنووني له لاري هم ځوانان، او هم مشران کولاي شي د زده کړي او کار په هکله پوښتني وکړي، او ژر ځوابونه تر لاسه کړي. کولاي شي ټیلفون وکړي، چټ وکړي او یا یو برښنا لیک ولیږي. الکترونیکي لاربنووني د ماښام له خوا او دهفتي په آخر کي خلاصي دي.

الکترونیکي لاربنووني ویبپاڼي وکتي:
.evejledning.dk

## د زده کړه او کار په هکله په ug.dk کي ولولي

تاسي او ستاسي اولادو کولاي شي په لاندي ویبپاڼي د ټولو زده کړو بیلابیلي رشتي او د کار امکانات په هکله ولولي: ug.dk کي د ځوانانو د پاره زده کړي په UddannelsesGuiden باندي کلیک کړي. د شاګردي تنخا، د داخلیدو شرطونه، وروسته د زده کړي د کار امکانات، او ځیني نور موضوعګاني په هکله مالومات ترلاسه کولاي شي. پرته له دی د ښوونځیو د ویبپاڼي لینک هم شته، کوم چي تاسي کولاي شي نور مالوماتونه تر لاسه کړی.

ug.dk ویبپاڼي وګوري.

## کله چي اولادو دی پیل کوي

په ټولو ښوونځیو کي د ځوانانو د زده کړي ټاکني لاربنود شته، چي کولاي شي ستاسي اولادو سره د زده کړي په پاي رسونه کي هغه سره کومک وکړي. دا کومکونه کیداي شي چي درسي کومکونه وي، یا د زده کړي یوي څانګي ټاکل وي، یا د پراکتیک یوه دوره وي، یا په نورو برخو کي کومک ترلاسه کول وي.
په ځینو ښوونځیو کي ځوانانو د پاره خاص لاربنود/ کوچ، ټولنیز مشاورین، منتور او یا نور کسان دي، چي کومک کوي. کله چي یو ځوان د زده کړي د ادامي په برخه کي ستونزي سره مخ کیږي، هر چیري د کومک تر لاسه کولو امکانات موجودی دي.

## که ستاسي اولادو پیل و نکړ

که ستاسي اولادو د ښوونځي پاي څخه وروسته یوه زده کړه پیل نکړه؟
د ځوانانو د زده کړي ټاکني لاربنود UU ټول ځوانانو ته تر 25 کلني پوري، کوم چي د ځوانانو د پاره زده کړي نه دي پیل کړي، هغوي تعقیبوي. ټول ځوانان د 15 کلني تر 17 کلني تر مینځ باید زده کړي وکړي، کار وکړي او یا کوم بل فعالیت ولري، کوم چي د ځوانانو د زده کړي لاربنود سره ژمنه کړي دي. د پلار او مور په توګه مهمه ده، چي تاسي په دغه برخه د خپل اولادو ملاتړ وکړي.

## ګټوري مشوري

### د خپل اولادو هیلي اوغوښتني ومنی

"دا ډیره مهمه ده، چي ځوانان پخپله په موضوعګاني باندي ګډ وي. که د هغوي هیله نه وي، نو بیا ډیره سخته ده چي هغوي زده کړي دپاره وپاریږي."



هغه ځوان چې د کارمرکز/ jobcenter له خوا مالي کومک تر لاسه کوي، او د زده کړي امر ورته ورکړ شوي، کولای شي د زده کړي د ټاکني په برخه کي کومک شي. د خپل کار مرکز نه پوښتنه وکړې، چې ستاسي اولادو د کوم ځای نه کولای شي کومک تر لاسه کړي.

**د زده کړي امر څه مانا لري؟**

هغي ځوانان چې مالي کومک تر لاسه کوي، د کارمرکز باید هغوي ته تر 30 کلني پوري د زده کړي امر ورکړي. د زده کړي امر باید داسي عملي شي، چې یو ځوان یوه زده کړه پیل، او هغه پای ته ورسوي. هغه ځوانان چې د زده کړي پیلیدو دپاره چمتو دي، په دی مانا ده چې باید خپل زده کړي ته چمتووالي وښي، او ژر تر ژره زده کړي پیل کړي.

ځیني لا تر اوسه پوري دی ته چمتو نه دي چې یو زده کړي پیل وکړي. لکه یا دوي لا تر اوسه ونشو کولای خپل زده کړي ټاکني څرګند کړي، یا په دی دلیل چې یواځې یو درسي توان یی کم دي. دغه راز ځوانان باید د خپل د زده کړي د ټاکني، او چمتووالي په هکله آماده، تر څو دوي د زده کړي پیل دپاره آماده شي. دا چمتووالي کیدای شي، لکه د لیکل او لوستل کورسونه، یا د ریاضی درسونه ووایي، او یا هم په یو موسسه کي د لنډ مودي دوري دپاره پراکتیک تیر کړي.

د زده کړي په برخه کي همکاري او ګډون، کیداي شي د یو چا نه تر بل چا پوري توپیر ولري. دا د کار مرکز دي چې ارزوني کوي، ځوان سره د زده کړي په برخه کي څه ډول همکاري وشي.

**د زده کړي مالي مرسته څه مانا لري؟**

ځوانان تر 30 کلني پوري، چې لا تر اوسه کوم تخصصي تخنیکي او مسلکي زده کړي نه دي کړي، کولای شي د زده کړي مالي مرسته تر لاسه کړي مخکي (kontanthjælp) نومیده.
د زده کړي مالي مرسته د دولتی زده کړي SU سره برابره ده. هغه ځوانان چې تر اوسه پوري زده کړي دپاره آماده نه دي، کولای شي چې د خپل زده کړي مالي مرسته سره، یو اضافي پیسي هم تر لاسه کړي، او دا هغه مهال دي، چې دوي زده کړي دپاره آماده کیږي.

**د پلار او مور څخه بل پلار او مور ته ګټوري مشوري**

کومي ګټوري مشوري کولای شي، چې یو پلار او مور بل پلار او مور ته ورکړي، چې خپل اولادوو سره د زده کړي په باره کي خبري کړي دي؟
مونږ د ایوان او جمیلي نه پوښتنه وکړه، چې د دوی بچیان خپل زده کړي ټاکلي دي. ددي ګټوري مشوري د دغه بروشور په شا کي راټول شوي، او د بروشور په بیلابیلو ځایونو کي راغلي دي.

# ځوانانو دپاره زده کړه

**هغې زده کړې چې د نهم ټولګي او لسم ټولګي نه وروسته کیداي شي پیل شي، د ځوانانو دپاره زده کړې ویل کیږي:**

دوي اصلي لوري لري:

- **تخنیکي او مسلکي زده کړې.** کله چې یو چا تخنیکي او مسلکي زده کړې پاي ته ورسوي، کولاي شي کار پسي وګرځي، لکه د ترکاڼ، آشپز او برقي په توګه کار وکړي، او یا کولاي شي زده کړې ته ادامه ورکړي.
- **ثانوي زده کړې.** وروسته د ثانوي زده کړې کولاي شي خپل لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي او کار دپاره تخصص او کارپوهي برابروي.

نورو زده کړو هم شته دي. او که ستاسي اولادوو د نهم ټولګي او لسم ټولګي د پاي ته رسیدو نه وروسته، ونشي کولاي چې یو تخنیکي او مسلکي، او یا یو ثانوي زده کړې ته آماده شي، د زده کړې آماده کیدو دپاره نوري بیلابیلي امکانات موجودي دي. لکه UU، د ځوانانو د زده کړې ټاکني لارښود، د پلار او مور په توګه ستاسو سره همکاري، او ستا اولادو سره په ګډه سره د زده کړې یو پلان جوړوي.

لاندني مودل په آسانه شکل د نهم ټولګي او لسم ټولګي د پاي نه وروسته د زده کړو بیلابیلي امکانات ښکاره کوي. نښه دا څرګندوي چې زده کړې کوم لوري ته روانه ده، د کار په لور یا د نور زده کړو لور ته. د هر یو زده کړې په هکله په بلو پاني کي ولولی.


**کار یا نوري زده کړې**

↑ ↑ ↑

| **نوري زده کړې** | **ثانوي زده کړې** | **تخنیکي او مسلکي زده کړې** |
|---|---|---|
| **تولیدي ښوونځي** | 3 کال | **د مثال په توګه د eux دوره** |
| Egu | Htx | 2- 5 کال |
| KUU | Hhx | لکه: خټګر، آهنګر، برقي |
| STU | Stx | قصاب، د پلورونکي |
| AVU | HF (2 کال) | مرستندوي، ټولنیز او روغتیایي مرستندوي |

↑ ↑ ↑

**نهم یا لسم ټولګي**



## ګټوري مشوري

### د خپل اولادو هیلي اوغوښتني ومنۍ

"خپلي پوښتني په واضح توګه مطرح کړی، تر څو وکولای شي خپل اولادو خبري کولو ته را پاروي. په دی توګه تاسو ته مالومیږي چي زوي/ لور دی څه خیالونه لري. ما د خپل لور ځخه پوښتنه وکړه، د کوم شی نه خوښ راځي، او په آینده کي غواړي څه شیانو سره کار وکړي. زه د هغه نه داسی پوښتني کوم."

**زده کړي د پاره چمتو؟ زده کوونکي داسي ارزوني کيږي:**

**د درسي له لحاظه**

- زده ده کوونکي باید د درسي له لحاظه لازمي چمتووالي ولري، تر څو وکولاي شي چي یو تخنیکي او مسلکي، او یا ثانوي زده کړي پیل کړي. هغي زده کوونکي چي په اتم ټولګي کي د دوی منځنی نمري د 4 نه کم وي، هغوي ته کومک دپاره خاص همکاري او مشارکت کیږي، تر څو دوي وکولاي شي د درسي له لحاظه یو ښه دریځ پیدا کړي.

**د شخصي له لحاظه**

- آیا زده کوونکي علاقه لري، چي یوه زده کړه پیل کړي او نوي شیان زده کړي؟
- آیا زده کوونکي کولاي شي په خپلواک توګه نوښت راوړي، لکه په عملي کارونو کي؟
- آیا زده کوونکي په درسي ساعتونو کي آمادګي لري؟
- آیا زده کوونکي هره ورځ په وخت په ټولګي کي حاضر دي؟
- آیا زده کوونکي د خپل زده کړي د ټاکني په هکله سوچ پیل کړي؟

**د ټولنیز له لحاظه**

- آیا زده کوونکي کولاي شي نورو سره په ګډه کار کړي، او یو مثبت رول ولوبوي؟
- آیا زده کوونکي نور خلک درک کولاي شي، او د هغوي درناوي کوي؟
- آیا زده کوونکي حوصله لري، او کولاي شي نورو سره په ګده کار وکړي؟

**د ځوانانو زده کړي ته چمتو**

په ابتدایي ښوونځیو کي د ښوونکي او لارښود ځوانان ارزوني کوي، چي آیا زده کوونکي د زده کړي چمتووالي لري، په دی مانا چي آیا دوي وروسته د نهم او لسم ټولګي څخه د یو تخنیکي او مسلکي، او یا ثانوي زده کړي د پیل دپاره چمتو دي. هغي زده کوونکي چي لا تر اوسه پوري زده کړي ته آماده نه دي، دوي ته نور فعالیتونه او یا زده کړو وړاندي کیږي.

ټول زده کوونکي په دري برخو کي ارزوني کیږي:

- درسي – آیا زده کوونکي له درسي له لحاظه لازمي چمتووالي لري؟
- شخصي – آیا زده کوونکي د شخصي له لحاظه لازمي چمتووالي لري؟
- شخصي – آیا زده کوونکي د شخصي له لحاظه لازمي چمتووالي لري؟

**د جذبیدو غوښتني**

په دغه ویبپاڼي کي د ځوانانو د زده کړي د جذبیدو د پاره باید غوښتني وکړي: optagelse.dk.
هغه ځوانان چي د نهم او لسم ټولګي نه خلاص شوي، د جذبیدو مهال د مارچ میاشتي لومړي نیټه ده. هغي زده کوونکي چي نهم او لسم ټولګي ته نه ځي، د کال په هر وخت کولاي شي د جذبیدو غوښتني وکړي. په غوښتنلیک کي باید د هلک/نجلی د نوري زده کړي پلان، او یو یا څو زده کړي نومونه، چي د دوی خوښي دي، په کي لیکل شوي وي.

**ځوانان، د زده کړي د پاره چمتو**

کله چي ارزوني شوه، ځوان زده کړي دپاره چمتو ده، د پلار او مور او د خپل ځوان ډنده ده، چي خپل غوښتنلیک ولیږي.
د ځوانانو د زده کړي ټاکني لارښود ارزوني کوي، چي آیا ځوان وروسته د نهم او یا لسم ټولګي څخه آماده دي چي د خپل خوښي زده کړي پیل کړي.

**ځوانان چي زده کړي دپاره چمتو نه دي**

که داسي ارزوني وشوه، چي یو ځوان د خپل هیلي سره سم یوه زده کړه ته چمتو نه دي، کولاي شي د ځوانانو د پاره زده کړي ارزوني څخه ګټه واخلي. همدارنګه که یو ځوان د جذبیدو شرطونه نه دي پوره کړي، امکان یی شته چه د جذبیدو په امتحان کي ګډون وکړي.

دا د ځوانانو د زده کړي ټاکني لارښود ده، چي ډنده لري دغه راز ځوانانو سره د جذبیدو په بهیر کي مرسته وکړي.

**ځوانان د 18 او 25 کلني تر مینځ**

ځوانان د 18 او 25 کلني ترمینځ، چي ښوونځي ته نه ځي، کولاي شي د زده کړي ټاکني په برخه د ځوانانو د زده کړي ټاکني لارښود څخه د مرستي، غوښتني وکړي. د جذبیدو غوښتنلیک په دغه لاندي ویبپاڼي کي ډکي کیږي optagelse.dk.

**غوښتنلیک ته ځواب**

ځوان د زده کړي ځاي څخه د جذبیدو په هکله لیک تر لاسه کوي – په لیک کي د حاضریدو مهال او ځاي پس له دوبي رخصتي نه څرګند شوي دي.



# تخنيکي او مسلکي زده کړه- زده کړه کار د پاره

**د يو تخنيکي او مسلکي زده کړي سره، ځوان کولاي شي په يو خاص مسلک کي د کار غوښتني وکړي، د برقي يا د پلورونکي مرستندوي په توګه. همدا رنګه يو تخنيکي او مسلکي زده کړي دا امکان برابروي، چي نور زده کړي وکړي او يا خپل موسسه پرانيزي.**

په ډنمارک کي يو تخنيکي او مسلکي زده کړي هم عملي ده او هم نظري. زده کوونکي بايد وکولاي شي چي د نظري درسونو څخه هم په عمل کي، هم د زده کړي په بهير کي، هم په يو کاري موسسه کي او هم په يو پراکتيک مرکز کي – او هم په آينده کي ورنه ګټه واخلي.
موخه يې دا دي چه زده کوونکي وکولاي شي وروسته د زده کړي، کار پيدا کړي.

د برقي په توګه پرته د نور شيانو نه، رياضي فورمولونه او سمبولونه زده کوي، او بايد وکولاي شي برقي شيان/ دستګاه ګاني ترميم وکړي.

د پلورونکي مرستندوي په توګه پرته د نور شيانو نه، پيريدونکي سره اړيکي، او په يو مغازه کي بايد وکولاي شي، ټول پيريدونکو سره ښه چلند وکړي، او دوي ته ښه خدمتونه وړاندي کړي.

**تخنيکي او مسلکي زده کړه داسي جوړ شوي**
يو تخنيکي او مسلکي زده کړي د دوو برخو څخه جوړ شوي، د يو ابتدايي دوري نه چي په يو تخنيکي او مسلکي ښوونځي کي، او يو اصلي دوري نه چي هغه هم د پراکتيک دوري په يو موسسه کي، د ښوونځي پراکتيک، پراکتيک په يو پراکتيک مرکز کي جوړي شوي، او لنډ مودي دوري په ښوونځي کي تيريږي. دا د زده کوونکي خپله دنده ده چه يو کاري موسسي سره د زده کړي تړون لاسليک کړي، مګر تخنيکي او مسلکي ښوونځي بايد ورسره مرسته وکړي. ځيني زده کړي بي له ښوونځي پراکتيک، او موسسي پراکتيک وړاندي کيږي.

**ابتدايی دوري د دوو برخو څخه جوړ شوي:**

**اوله ابتدايي دوره: اصلي سيمه او څانګي**
د ابتدايي دوري اوله برخه هغه زده کوونکو دپاره دي، چي سږ کال نهم او لسم ټولګي څخه خلاص شوي دي. که چا يو تخنيکي او مسلکي زده کړي ناوخته پيل کوي، بايد راسأ د ابتدايي دوري د دوهمي برخي څخه شروع وکړي.

ځوانان بايد د څلور اصلي سيمي نه بايد په يوه کي د جذبيدو غوښتني وکړي:

- تکنالوژي، ودانی ترانسپورت
- پاملرنه، روغتيا، ښووني او روزني
- دفترداري، سوادګرۍ او راکړه ورکړه خدمتونه
- خوراکي مواد، کرهني او آزمايشتونه

وروسته د 14 ورځي په يو تخنيکي او مسلکي ښوونځي ځوانان بايد خپل درسي لوري وټاکي، چي شپږ مياشتي دوام مومي. پس له دی نه دوی بايد پريکړي وکړي، چي کوم زده کړي هيله لري. په يو تخنيکي او مسلکي ښوونځي کي سبق ويل ځوانانو سره مرسته کوي، چي خپل ټاکنه وکړي.



## ګټوري مشوري

### پوښتنه وکړئ: ته په کوم شیانو کې ښه یې؟

"کله کله اولادونه پخپله دی ته ندي پام کړي، چي په کوم شيايو کي ښه دي. تاسي په دي باندي سوچ وکړي چي ستا د اولادو دري ښي استعدادونه کوم دي، او د هغه دري ښي وړتیا کوم دي. په یوه زده کړه استعداد وده کوي او مخ ته ځي.
فکرونه فعال کيږي: هو، دا دی چي زما اولادو په کي ښه دي.
که ځوان په هماغه لور مخ ته لاړ شي، امکان لري د هغه زوي/ لور په استعدادونو کي نور پرمختګ هم راشي، داسي چي په اول سر کي سړي داسي فکري نه وو کړي"


ALIE

### دوهمه ابتدايي دوره: زده کړې ډپاره چمتو والي

د ابتدايي دورې دوهمه برخه هغه زده کړې دي، چې ځوان پريکړې کړې دي چې څه وشي، لکه ترکاڼ يا برقي.

په دوهمه برخه کې بايد ځوان خپل سويه او پوهاوې هغه ځاي ته ورسوي، چې د اصلي دورې د پيليدو دپاره لازمه ګڼل کيږي.

### اصلي دورې

د تخنيکي او مسلکي بيلابيلو زده کړو هر يو خپل اصلي دورې لري. زده کوونکو بايد د يو زده کړې د اصلي دورې د پيل دپاره هغې غوښتنې چې دي، بايد هغه يې پوره کړې وي:

- دوي بايد د ابتدايي دورې په دوهمه برخه کې کامياب شوي وي.
- دوي بايد په اصلي دورې کې، چې پخپله ټاکلې ده، د داخليدو شرطونه پوره کړې وي،
- که زده کوونکې يو کارې موسسې سره د زده کړې تړون په لاس ولرې، کولاي شي راساً په اصلي دوره کې پيل کړې.

که زده کوونکې يو کارې موسسې سره د زده کړې تړون په لاس ولرې، کولاي شي راساً په اصلي دوره کې پيل کړې.

تخنيکي او مسلکي زده کړې يو امتحان سره پاي ته رسيږي.

### زده کړو دومره وخت نيسي

زده کړو د دوو تر پنځه نيم کاله پورې وخت نيسي. ځيني تخنيکي او مسلکي زده کړې مختلف درجې لرې. دا په دې مانا ده چې ځوانان کولاي شې، پخپله وټاکې، چې خپل زده کړې لنډ کړې، او يا خپل زده کړې د يو اوږدې مودې دپاره ادامه ورکړي. دا د دوی ميني، استعداد او کوښښ پورې اړه لرې.

هغه کار چې دوي وروسته پيدا کوي، د دوي د هغه زده کړې درجې پورې تړلې دي، چې دوي زده کړې کړې دي. په معمولې توګه هغه چا چې اوږدې مودې دپاره زده کړې کړې، يا يو تخنيکي او مسلکي زده کړې پاي ته رسولي دي، تنخا يې بهتره ده.

### Eux: تخنيکي او مسلکي زده کړې چې يو ثانوي درجې سره ګډ شوي

ماناي دا ده چې يو تخنيکي او مسلکي زده کړې، يو ثانوي Eux درجې سره ګډ شوي دي. د ثانوي زده کړې درجې يو تخنيکي او مسلکي زده کړې سره برابره ده.

د Eux دورې د ثانوي زده کړې په شان تاسو ته د لوړو زده کړو امکانات برابروي.

که چا يو Eux زده کړې دوره وټاکې، په معمولې توګه دا زده کړې د يو تخنيکي او مسلکي په پرتله اوږدې دي. Eux هم په تخنيکي او مسلکي زده کړې په عادي توګه پاي ته رسيږي، او هم يو ثانوي درجې سره، او زده کوونکې معمول سره سم، هم د تخنيکي او مسلکي زده کړې د پاي سند تر لاسه کوي، او هم د Eux سند نمرې سره تر لاسه کوي.

Eux يو ډير شميرتخنيکي او مسلکي زده کړو دپاره يو امکان بلل کيږي. د سوادګرۍ په دوه زده کړو ځانګې، پانګوالي زده کړې او د دفترداري زده کړې کارپوهې سره، تل د Eux د زده کړې يوه برخه ده.

### د جذبيدو شرطونه

ځوانانو بايد په يو تخنيکي او مسلکي زده کړې د جذبيدو دپاره بايد لاندنې شرطونه پوره کړې وي:

- ابتدايي ښوونځې يې پاي ته رسولي وي،
- منځنې نمرې کم له کمه په ډنمارکي او رياضې کې 2.0 وي، او
- زده کړې دپاره چمتو وي (که نهم او لسم ټولګې هم دا مهال پاي ته رسولي، او يا د هغه نه يو کال وروسته)

### تنخا او SU

د زده کړې په بهير يا زده کوونکې ته SU يا تنخا، او يا د ښوونځې دپاره مالي مرسته ورکول کيږي:

- که زده کوونکې 18 کلنې يې پوره کړې، او په ابتدايي دوره کې درس وايي، کولاي شي د SU غوښتنې وکړي.
- کله چې يو زده کوونکې يو کارې موسسې سره يو تړون لرې، او اصلي دورې پيل کوي، هغه ته تنخا ورکول کيږي.

که چا د ښوونځې په پراکتيک کې دي، هغه ته د ښوونځې پراکتيک مالي مرسته ورکول کيږي.

د SU په هکله د ug.dk په کور پاڼې ولولی.

په نورو پاڼې کې د بيلابيلو تخنيکي او مسلکي زده کړو، او دا چې کوم کارونه د هغې له لارې پيدا کيږي، ولولی.

# د یو تخنیکي او مسلکي زده کړې سره ځوان کولای شي په لاندنیو برخو کې کار وکړي

**بیلابیلې رشتې په ګډه سره کار کوي – یوه نتیجه چې لیدلای شې**

**نوي ودانۍ جوړیږي، زاړه یې باید د سر نه جوړ شي، او د ګټې اخستلو وړ وګرځي. د ودانیو او تاسیساتو بیلابیلې رشتې، ګډ کار غواړي. د دغه نتیجې په راتلونکو کلنو کې به وګورو، چې زمونږ د چاپیریال یوه برخه کیږي.**

**د تاسیساتو او ودانیو کارګر**

لارو، ودانیو او پلو. د ودانۍ کارګر د کانکریت او سمنټ د کار په برخه پوهاوي لري. د ودانۍ کارګر په توګه هم د کانکریتي شیانو جوړول وظیفه لري، او هم د زاړو کانکریتي شیانو بیلول او ځاي په ځاي ماتول وظیفه لري.

**خټګر**

خشت او کاشي. دیوال، بام او حمام. خټګر دا زده کړې دي، چې نخشې ولولي، او کټ مټ د هغه سره سم ودانۍ جوړ کړي.
همدارنګه خټګر دا زده کړې چې څنګه بنسټ کیږدي، او د خوني تلی جوړ کړي، بام جوړ کړي، او د ودانۍ مخ ښکلي کړي، او همدارنګه دیوالونه او د خوني تلی ته کاشي لګوي.

د منصور پلار او مور هیله کوله چې هغه یو بل زده کړې وکړي. سره له دی، دوی دا پریکړه وکړه چې د هغه ملاتړ وکړي. اوس هغوي په منصور ډیر ویاړي. "زه هم د یو زیات نورو په شان غوښته، چې انجنیري ووایم، مګر د خټګري زده کړې په هکله یو څه مي واریدله. خټګري داسې یو زده کړې دي چې عملي او نظري زده کوي. نن زه خپل موسسه لرم، او ډیر ویاړم چې خپل هدف ته رسیدلي یم."

**برقي**

برق او رڼایی، شبکه او روباتونه. هم د قوي برق دپاره، هم ټیلفوني اړیکو دپاره، او هم کمپیوتري تخنیکي کارونو دپاره، برقي تاسیساتو ته اړتیا ده. پوهاوي او کارپوهي ته ضرورت لري – چې د زده کړې په بهیر زده کیږي.

سالین د برق په رشته کې زده کړه کړې ده. هغه هم د یو زیات نورو په شان غوښته چې انجنیر شي، او په همدی وجه ثانوي ښوونځي پیل کړل. دا یو سم ټاکنه نه وو، د زده کړې لارښود هغه ته مشوره ورکړه، چې په یو تخنیکي او مسلکي رشته زده کړه وکړي. "برقي کیدل یو په زړه پوري کار دي، هغه ځاي چې مي پراکتیک کوله، اوس هماغه ځاي مقرر شوي یم. دا مهال کله چې شا ته ګورم، ډیر خوشاله یمه چې برقي یم. دا زما ځان باوري پیاوړي کړي ده. ځکه چې زده کړې مي پاي ته رسولي، نن دا شوق راته پیدا شوي، چې لوړي زده کړې ته ادامه ورکړم."

**د تاسیساتو بنوال**

پارکونه، میدانونه، اډیري او بڼ. د تاسیساتو بنوال د شنه سیمي ساتنه او پالنه کوي، او نوي تاسیسات جوړوي. د تاسیساتو بنوال باید بوټي، ونې او ګیاه وپیژني – او وکولای شي دغي شیان په ښکلي توګه سره ګډ کړي.

**ټرکاڼ**

د خوني تلی، چت او بام. کله کله تر آسمان پوري جګ، او کله کله په ورکشاپ کې کار کوي. ټرکاڼ جوړ شوي شیانو سره چې وړل کیږي، کار کوي، لکه کړکۍ او چتونه. زده کړې د لرګیو وداني زده کړې نومیږي.

**نلدوان**

اوبه، ګرما او هواکش. نلدوان پروژه جوړوي، ارزوني کوي، نقشه جوړوي، وړانديز ورکوي او شیان نصبوي. د نلدوان په توګه په ریاضي، فیزیک او نقشه ایستلوکي باید تکړه وي. زیات نلدوان پیریدونکو سره اړیکي لري، او یو زیات شمیري خپل شرکت لري.
ځیني یې د ودانیو په شرکتونو کې مقرر کیږي، او ځیني هم په انجیري موسسي کې.
زده کړې د نلدوانی او انرژي زده کړې نومیږي.

"زما ځیني انډیوالان ماته وایي، چې زه د تشنابو ساتونکي یم. مګر زه خاندم او وایم، داسې کیږي چې زه ستاسو نه زیاتي عاید کړم. په رښتیا نلدوان، نه یواځې تشناب نصبوي، بلکه یو زیات نور کارونه هم کوي، لکه د کار نقشه.



او زیاتره وخت انجنیرانو او برقیانو سره په ګډه کار کوي. که ما دا ټاکنې کړې وي، چې ثانوي ښوونځي پیل کړم، او دی ته سوچ کولې چې انجیري به ووایم، ویریدلم چې زده کړې مې نیمګړې پاتې شي، ځکه چې غوښتنې لوړې دي. د زده کړې زما ځان باوري پیاوړی کړی ده.زه دا نه رده وم، کله چې دغه زده کړې مې پای ته ورسید، نور زده کړې ته ادامه نه ورکوم."
محسن د نلدوان زده کوونکي

**مثالونه:**
**په لاندنیو کارونه میاشتنی تنخا (منځني)**

| | |
|---|---|
| خټګر | 31.813 کرون |
| برقي | 35.050 کرون |
| د تاسیساتو بنوال | 28.525 کرون |
| ترکاڼ | 31.903 کرون |

**خپل موسسه لرل؟**
زیاتره ماهر کارګران په وړانیو چارو کې غواړي خپلواک کار وکړي.

# د یو تخنیکي او مسلکي زده کړې سره ځوان کولای شي په لاندنیو برخو کې کار وکړي

## کسب او دوړ – اوسني تولید

**په زیاترو ځانګو کې د کسب دوړونه، د نوي تکنالوژۍ د ګټو اخستلو سره ساتل شوي دي. تولید باید زیات شي، او همدومره مهمه ده چې کیفیتی هم لوړ وي.**

**د وداني ترکاڼ/ موبل جوړونکي**

دروازې، کړکۍ، د دیوال تختې او موبل.
د وداني ترکاڼ هم په نوي ودانیو کې، او هم په زړو ودانیو کې، چې باید ترمیم شي، کار کوي.
د دوي زیاتره کار لرګیو سره دي، خو نورو شیانو سره هم کار کوي. دوي په ورکشاپونه کې، په ودانیو کې، د ودانیو په ساحوکې، او په شخصي کورونو کې کار کوي.
زده کړي د موبل جوړونکي زده کړي نومیږي.

**آشپز**

رستورانونه، د خوراکي موادو جوړول او تامینول شرکتونه، او د خوراکي موادو شرکتونه. د آشپز په توګه د دوډې جوړلو او د خوراکي مواد ګډولو ډنده لري، داسې چې اشتها راپاروي.
زده کړي (ګسترونوم) خواړه پوهه زده کړي نومیږي.

**ډبرو ماتونکي**

د ډبري ماتول، د ډبري غوڅول او د ډبري تنظیمول. حکاکي او د ډبري ښکلي کول. د دغه کسب یوه ستره برخه پیریدونکو ته سم مشوري ورکول دي. د ډبري په انتخابولو کې باید ډیر پام وشي، او ډبرغوڅونکي باید د خپل هنري استعداد څخه په ښایسته توګه کار واخلي، او د سپارښت دپاره یو سم د حل لارې پیدا کړي.
نورماله ده چې ډبرغوځونکي خپل موسسه ولري.

**آهنګر**

پولاد، اوسپنه، مس – او پلاستیک. د دغه کسب یوه مهمه برخه د سم فلز انتخابول دي، چې باید بیلابیلی وظیفی دپاره انتخاب شي.
یو آهنګر باید په لاسي کارونو کې تکړه وي، او دسترګو ډاډمن نښه ولري. همدارنګه آهنګر باید په پام سره کار وکړي، او د تخنیکي استعداد خاوند وي.

آشی د آهنګري په رشته کې زده کړه کړي دي. "ما خپل پراکتیک دري میاشتي مخکي له دی څخه چې خپل ابتدایي دوره پاي ته ورسوم، پیدا کړي وم. ډیر خلک داسې فکر کوي چې آهنګري یعني یواځي ولډنګ کول. دا یوه زده کړه ده، په آهنګري کې زده کوونکي پرته د نور شیانو څخه، د مونتاژ کولو تخنیکونه، او د ولډنګ کولو تخنیکونه زده کوي، او یو ډیر زیات شیان نقشه کوي او جوړوي. په خپل کورني کې زه اولنی کس یم چې د ماهر کارګر زده کړي کوم. کورنی مې په ما باندې ډیر ویاړي."

**د واړه شیانو میخانیک**

د عکاسي کمرې، د ګنډلو ماشین د غاښو ډاکټر برمې. د واړه شیانو میخانیک د وسایلو ځیني برخې جوړوي، چې زیاتره داسې کوچني او واړه دي، چې سرې باید د ذره بین څخه کار واخلي. یو ډیر لوړ غوښتني دا دي چې شیان باید سم او دقیق جوړ شي. د واړه شیانو میخانیک په هغې تولیدي موسسې کې کار کوي چې لکه ناویګشن او ټیلفون برخې جوړوي.

**غاښ جوړونکي**

سره زر، پرسلین یا مصنوعي مواد. د غاښ جوړونکي په توګه مصنوعي غاښونه جوړوي، او هغې ترمیموي – مصنوعي غاښو ته پروتیز هم ویل کیږي.
غاښ جوړونکي حساس کار دي. دا کار د ګوتې توان، شکل ورکول، فکر راټولول او پاملرنه غواړي.

**مثالونه:**
**په لاندنیو کارونه میاشتني تنخا (منځني)**

| | | |
|---|---|---|
| د وداني ترکاڼ/ موبل جوړونکي | 31.681 | کرون |
| آشپز | 30.767 | کرون |
| ډبر ماتونکي | 31.895 | کرون |
| آهنګر | 33.073 | کرون |
| د واړه شیانو میخانیک | 35.660 | کرون |
| غاښ جوړونکي | 31.554 | کرون |



## ګټوري مشوري

### د خپل اولادو هیلي ومنی

"مهمه ده چي پلار او مور د خپل اولادو هیلي په هکله پراخ وي. امکان لري پلار او مور وغواړي چي اولادوو هغه لوري ته روان شي، چي دوي غواړي. کیداي شي چي اولادوونه د خپل پلار او مور په خاطر هغه لور ته روان شي، مګر خپل کارونو په سمه توګه نه ترسره کوي. نو پریږدئ چي دوي هغه لوري چي پخپله غواړي، لاړشي، په دی توګه هغوي یو تحرک سره مخ ته ځي"



# د یو تخنیکي او مسلکي زده کړي سره ځوان کولای شي په لاندنیو برخو کي کار وکړي

## نوي تکنالوژي – چټکتیا او کارپوهي

**د کمپیوټر تکنالوژي، روباټونه او د ماشینونو پروسس په صنعت باندي اغیزي کړي دي. ډیر شیان اټومات شوي دي. باید تکړه او کارپوهه خلک به کارونو کي و ګمارل شي، تر څو دوي هم د کار په بهیر او هم په تولید کي وکولای شي ماشینونونه او وسایل آماده، فعال او ترمیم کړي.**

### د اټومات ماشینونو تخنیکر

اټومات ماشینونو او وسایل په صنعتي کارخانو کي. دغه ماشینونه باید همیشه فعاله وي، که په کي ځند راشي، ډیر ګران تماميږي. د اټومات ماشینونو تخنیکر په توګه نیمګړتیاوي پیدا کوي، ترمیموي، او ماشینونه بیا فعالوي.کله چي ماشینونه ګل دي، سیستمونه بایه ساتنه او پالنه وشي.په دغه کسب کي باید د نوي تخنیکونه سره آشنا وي.زده کړي د اټومات ماشینونو او پروسس زده کړي نوميږي.

### پلاستیک جوړونکي

بادي ژرندي دپاره بنکي، غټ بیړی یا ماشینونو دپاره واړه واړه شیان جوړول. د پلاستیک جوړونکي په توګه د پلاستیکي شیانو د جوړولو په ځانګه کار کوي. پلاستیک جوړونکي ماشینونه او محصولات کنترولوي. پلاستیک جوړونکي باید سم پلاستیک انتخاب کړي، او د سم تخنیک نه کار واخلي. پلاستیک جوړونکي باید نوي تخنیکونه تعقیب کړي.

"یوه ورځ په یوه ورځپاني کي مي یو اعلان ولوستله، چي یو شرکت پلاستیک جوړونکي شاګرد ته اړتیا لري. ما مخکي هیڅکله د پلاستیک سره کار په هکله نه پوهیدلي، په هر حال، هلته لاړم او هغه ځاي مي وکتله. په زړه پوری ښکاریده، موافقي سره مو وکړه، چي په اول سر کي د کارګر په توکه هلته کار پیل کړم. وروسته د شپږ میاشتي شاګردي مي شروع کړه. کله چي شروع مي کړه، داسي سوچ کوله چي زه هیڅکله دغه شیان نه زده کوم. مګر کرار کرار زده مي کړه. په زړه پوري ده، زه هر کله د نوي ماشینونه او پروسس نوي شیان زده کوم."

سورین - پلاستیک جوړونکي

### د ماشین الاټو کارګر

د بیړي موتور، جرثقیل او صنعتي روباټونه. د کار یوه مهمه برخه د ماشینونو پروګرامول دي، ځکه چي زیاتره ماشینونه کمپیوټر سره اداره کیږي. د صنعتي کارګر په توګه زده کوي، چي ماشینونه څنګه فعاليږي، او کله چي ماشین الات کوم نیمګړتیاوي پیدا کړي، هغه څنګه ترمیمیږي. کاري وظایفي د یو کارخاني نه تر بلي کارخاني پوري ډیر توپیر لري.
زده کړي د ماشین الاټو کارګر زده کړي نوميږي.

### د کار سامان جوړونکي

ټوټه کول، فشار ورکول او ټیټول – فلز او پلاستیک.
د کار سامان جوړونکي هغه شیان جوړوي چي د پرمختلي عمده تولیداتو دپاره بنسټ ګڼل کیږي. زیاتره د cnc په ماشینونه کي استعماليږي، چي هم پروګراميږي، او هم په کار اچول کیږي.
زده کړي د کار سامان جوړول زده کړي نوميږي.

### صنعتي قصاب

غوایي، خوسکي او پسه. ډنمارکي قصابي مدرنه صنعتي کارخانه ده، او د کار زیاتره برخه د چلونکي تسمي پر مخ ترسره کیږي.
زده کړي صنعتي قصاب زده کړي نوميږي.

### لبنیات پلورنکي

شیدي، کوچ او پنیر. لبنیات پلورنکي د لبنیاتي تولیدااتو سره کار کوي. پرمختلي لبنیات د چاپیریال یو اټوماتیک تولید دي. کولاي شي د تولید یا د کیفیت کنترول په برخو کي کار وکړي.

---

## مثالونه:
## په لاندنیو کارونه میاشتني تنخا (منځني)

| | | |
|---|---|---|
| د اټومات ماشینونه تخنیکر | 37.221 | کرون |
| پلاستیک جوړونکي | 32.845 | کرون |
| د کار سامان جوړونکي | 34.196 | کرون |
| صنعتي قصاب | 33.024 | کرون |
| لبنیات پلورنکي | 31.884 | کرون |

## د يو تخنيکي او مسلکي زده کړي سره ځوان کولاي شي په لاندنيو برخو کي کار وکړي

## پيريدونکو ته خدمتونه – خرڅلاو او سرويس

**د پيريدونکي ښه راغلاست، او پيريدونکي ته سم خدمت کول حتمي ده، مگر هيڅکله پوره نه ده. پيريدونکي ته خدمت کول بايد هغه شی يا محصول چي خرڅيږي مسلکي کارپوهي سره گډ شي. په ځينو حالاتونه کي د ماهر کارگر سابقه هم په درد خوري.**

### د پلورونکي مرستندوي

خوراکي مواد، کالي او برقي وسايل. د پلورونکي مرستندوي په توګه په يوه مغازه کي معمولي کاريي دا ده، چي بايد کوښښ وکړي درست شيان په تاقچي کي ځاي په ځاي شي. پلورونکي مرستندوي بايد پيريدونکو ته چي سودا اخستيلو دپاره راځي، لازمي آسانتياوی برابري کړي. په مغازه، يا په سوپرمارکيټ کي هر ډول ورځني ضروري شيان خرڅيږي.

روزا وروسته د لسم ټولګي نه په سوداګری ښوونځي کي پيل کړل. وروسته بيا د ماتس په مغازه کي پراکتيک پيدا کړل، اوس هم هماغه ځاي کار کوي. "زما د کار خاوند وائي چي زه يو تکړه پلورنکي يم، او پخپله دا تجربه کوم چي پيريدونکو مي هم ما نه خوشاله دي. زه د خپل زده کړه په مهال د شخصي له لحاظه ډير پرمختګ کړي يم، او د خپل انتخاب نه پښيمانه نه يم. زما هيله دا دي چي يو ورځ خپل مغازه ولرم، مګر په اول سر کي غواړم د يو مغازه مشره شم. همدارنګه زه غواړم چي واده وکړم او د بچيانو خاوند شم.

### معمولي قصاب

غوښه، د غوښي ټوټي او تيار خواړه. معمولي قصاب غوښي ټوټي ټوټي کوي، او د قصابی په هټی کي، او همدارنګه د سوپر مارکيټونو په قصابي څانګي کي خرڅوي. پيريدونکو ته چي سوډا اخستيلو لپاره راغلي دي، مشوري ورکوي، پيسي شميري، بل ورکوي، او تيار خواړه په هکله دوي ته مالومات ورکوي.

### سينګارکوونکي

قيچي کول، کړی کول او رنګ ورکول. سينګار کوونکي يو لاسي کسب دي، چي د موډ تر اغيزي لاندي دي، او بايد هميشه اوسنی حالات او نوي تخنيکونو سره ګام په ګام مخ ته لاړ شي. پيريدونکي ته بايد د نوي پرمختګونو په باره مالومات ورکړي، او سره له دی د پيريدونکي ويشتانو ډول او کيفيت ته هم پام وکړي.

قيچي کول، کړی کول او رنګ ورکول. سينګار کوونکي يو لاسي کسب دي، چي د موډ تر اغيزي لاندي دي، او بايد هميشه اوسنی حالات او نوي تخنيکونو سره ګام په ګام مخ ته لاړ شي. پيريدونکي ته بايد د نوي پرمختګونو په باره مالومات ورکړي، او سره له دی د پيريدونکي ويشتانو ډول او کيفيت ته هم پام وکړي.

### د بانک کارکوونکي

بوډجه جوړول، د تقاعد لپاره سپما او پانګي اچوني. د بانک کارکوونکي د بانک پيريدونکو ته مشوري ورکوي، او پريکړي کوي. لکه کله چي يو پيريدونکي غواړي پور واخلي، د بانک کارکوونکي د هغه مالي حالت څيړي، او د پور د ډاډمن بيرته ورکول امکان هم ارزوني کوي. زده کړي د مالي چارو زده کړي نوميږي.

### ګارسون

خواړه او شراب – ښه خدمت کول. يو ګارسون د خپل په کاري ورځ کي زيات پيريدونکو سره اړيکي لري، او بايد ښه سرويس ورکړي، او پيريدونکو سره ښه چلند ولري. د ګارسون په توګه بايد د دی نه خوشاله وي چي وربانديي بيروبار وي.

### د ريسپشن کارکوونکي

هوټلونه، د کنفرانسونو مرکزونه او لوي موسسي. د ريسپشن کارکوونکي يو مرکزي کس دي، چي ټولو سره خبري کوي – په باندنيو ژبو هم خبري کوي – او په يو مهال څو کارونه کوي . او کله چي هر شي چټک روان دي، بايد د ريشپشن کارکوونکي وکولاي شي، کارونه په آرامتيا ترسره کړي.

**مثالونه:**
**په لاندنيو کارونه مياشتني تنخا (منځني)**

| | | |
|---|---|---|
| د پلورونکي مرستندوي | 29.966 | کرون |
| سينګار کوونکي | 28.098 | کرون |
| ګارسون | 30.692 | کرون |
| د ريسپشن کارکوونکي | 30.113 | کرون |





## ګټوري مشوري

### پوښتنه وکړئ: پنځه کاله وروسته چیري یي؟

"زوي څخه مي پوښتنه وکړه: سمه ده، هغه کارونه چي اوس کوي، هغي باندي سوچ مه کوه، په دی باندي سوچ وکړه، بیرته ګرځو او ارزوني کوو، چي له کوم ځاي نه باید پیل کړو. هغه زما په خبرو باندي ښه پوه شو."

## طبعیت سره مینه – د نباتاتو او څاروي حسابي تولید

**کله چې د طبعیت څخه ګټه اخلو، باید هغه ته هم احترام ولرو. دا هم مهمه ده، چې تولیدات د وخت د وړتیا او منطقي پرنسیبونه سره سم تنظیم کړو.**

### بزګر

څاروي او درمند، ماشینونه او مالي حالات. څو اړخیزه کار، چې د کال فصلونو سره بدلیږي. د کار یوه مهمه برخه د کاري ډېدي پلان کول، او د ماشینونو او ودانیو ساتل دي. بزګر کیداې شي هم نورو ته کار وکړي، او هم کولاې شي، په خپل څمکي باندي کار وکړي. ځیني کروندګري د ماشینونو په تم ځاې کي نورو ته کري، نالوي او درمند کوي. زده کړې د کرني زده کړې نومیږي.

نواز په 2000 م کال کي ډنمارک ته راغلي دي. هغه د افغانستان کډوال دي. په افغانستان کي د ده د کورنۍ زیات غړي کرنه سره اخته دي. مګر نواز اولني کس دي چې د کرني په برخه کي زده کړه کوي.

### تولیدي بنوال

آزاد کرونده، د میوي باغونه، یا د نباتاتو ښوونځي. د کار یو مهمه برخه د تولید دپاره پلان جوړول دي، کله چې پیریدونکي راځي او غواړي هغي شیان چې خوښي راځي، واخلي، باید تولیدي محصولات د خرڅولو دپاره آماده وي. زیاتره کارونه په آزاد کرونده کې تر سره کیږي، او د کال فصلونو پوري تړلي دي.

### د ګلخاني بنوال

ګلان، د ګلدان دپاره ګلان او سابو خرڅلاو دپاره. دا زیاتره هغي محصولات دي چې په ګلخاني کي په عمده ډول تولیدیږي. د ګلخاني بنوال د ګلخاني تخنیکي وسایل اداره، او کنترولوي، تر څو د ګلخاني هوا ګلانو دپاره وړ وي.

د کار یوه مهمه برخه تولید دپاره پلان جوړول دي، او کله چې پیریدونکي د ګلانو د اخستیلو دپاره راځي، چې په خپل حویلی کي کیږدي، د کړکي په چوکاټ باندي کیږدي، او یا د ګلانو په توډي خوني کي کیږدي، ګلان باید د خرڅلاو دپاره آماده وي.

### د ځنګل کارګر

وني، څاروي د اوبو ژوري او انګړ. د ځنګل کارګر په توګه ټول کال د باندي کار کوي، او په ځنګل کي بیلابیل کارونه لري.

د کار یوه برخه برقي اري او چلونکي غټ ماشینونه سره، ترسره کیږي، مګر دا هم شته دي چې کله کله فیزیکي ډروند کارونه هم وکړي.

د کار امکانات هم په دولتي ځنګلونه کي دي، او هم په خصوصي ځنګلونه کي.

### د شنه سیمي ساتندوي

کبل، ګلان، وني او بوټي. د ګلف میدانونه باید هر کله نوي ریبل شوي، او ګرډ چمن باید همداسي وي، تر څو د ګلف توپ په ژوري کي ولویږي. دا کارونه د شنه سیمي ساتندوي وظیفه ده.

ساتندوي باید د ګلانو، وني او بوټي چې ګلف میدان سره تړلي دي، هم ساتنه وکړي، تر څو سیمي ښکلي او ښایسته وښکاري.

د فوټبال په استدیومونو کي د کار امکانات هم شته دي.

**مثالونه:**
**په لاندنیو کارونه میاشتني تنخا (منځني)**

| | | |
|---|---|---|
| بزګر | 29.114 | کرون |
| د ګلخاني بنوال | 28.843 | کرون |

## د یو تخنیکي او مسلکي زده کړي سره ځوان کولاي شي په لاندنیو برخو کي کار وکړي

## یو خوځېدونکي کار ځاي – د بار او مسافر وړل راوړل

**هرکله کوښښ کېږي چي ترانسپورتي وسایل په وخت – او په سمه حالت ورسېږي. سره له دی چي زیاتره وخت سړي د کار په مهال یواځي ده، بیا هم د کار په وخت کي ډیرو خلکو سره او چاپیریال سره په اړیکي یي. پرته له دی په نړي کي ډیر زیات ځایونه هم به ووینې.**

### بس چلوونکي

ښاري بسونه او د ګرځندوي بسونه. د بس چلوونکي په توګه د کار یوه برخه سپرلیو سره ښه چلند، د هغوي کارتونه کنترول، ټکټونه خرڅول، او په بس کي آرامی او نظم برقرارول دي. بس چلوونکي د بسونو په شرکتونو کي او یا د خصوصي بسونو ځاوندانو په شرکت کي کار کوي، او یا کولاي شي چي خپل شرکت پرانیزي. زده کړي د بشري وړل او راوړل زده کړي نومیږي.

### لاري چلوونکي

معمولي بارونه، خوراکي مواد او خطرناک بارونه. بیلابیل بارونه، هر یو ځان ته قانون او مقررات لري، چي چلوونکي باید هغه مراعات کړي. چلوونکي باید تګلوري پلان کړي، او ډیر سندونه ډکي کړي، چي د موټر چلولو په مهال باید ورنه کار واخستیل شي. د دغه کار یوه مهمه برخه په لاري کي بیلابیل بارونه پورته کول او د بارونه کټه کول دي، همدارنګه باید کوښښ وشي چي بارونه سم ټینګ شي.

معمولي بارونه، خوراکي مواد او خطرناک بارونه. بیلابیل بارونه، هر یو ځان ته قانون او مقررات لري، چي چلوونکي باید هغه مراعات کړي. چلوونکي باید تګلوري پلان کړي، او ډیر

سندونه ډکي کړي، چي د موټر چلولو په مهال باید ورنه کار واخستیل شي. د دغه کار یوه مهمه برخه په لاري کي بیلابیل بارونه پورته کول او د بارونه کټه کول دي، همدارنګه باید کوښښ وشي چي بارونه سم ټینګ شي.

### د بیړي میخانیک

د بیړي موټور او د بیړي بل تخنیکي کارونه. د بیړي تخنیکر په توګه سړي هر کله په خاصه توګه په غټو بیړیو کي د بیړي په غولی کي کار کوي. د بیړی د موټور د نوي فیلټرونو په بدلولو سره او د زیني ګاني په سم ساتني سره، بیړي د امکان تر حده پوري ښه لار وهي. د بیړي تخنیکر د پلو او د موټور نوکریوالي په غاړه لري، او د بیړي اشټرنګ اداره کوي. پرته له دی کله چي بیړي باید بار واخلي او بار اینبي، دا هم د بیړي د تخنیکر وظیفه ده.

### د ژغورني عمله

اور، سیلاو او ترافیکي پیښي. کله چي باید یو انسان او ځاروي وژغورل شي، دا کار باید په چټکتیا سره او سم تر سره شي.
د ژغورني عمله ستري پیښي ته ځان رسوي، مګر دا هم کیداي شي که د یو چا موټر کار نکوي، هغوي سره مرسته کوي او د دوی موټر ورکشاپ ته رسوي.

### د سړوولو تخنیکر

سوړوالي، تودوالي او یا هم ملایمه او برابره. د سړوولو تخنیکر د سړولو او هوا ماشینونه نصبوي، او هغوي تنظیموي. پیریدونکي ته باید مشوري ورکړي. زیاتره کار د پیریدونکي په ځاي کي ترسره کیږي، لکه ورځني موادو مغازي، یخچال دار موټرونه، یخچالي خوني، یا په قصابي کي.

### مثالونه:
### په لاندنیو کارونه میاشتني تنخا (منځني)

| | | |
|---|---|---|
| بس چلوونکي | 26.829 | کرون |
| د بیړي تخنیکر | 33.646 | کرون |
| د ژغورني عمله | 33.075 | کرونر |





# مسلکي پاملرنه – نورو سره مرسته دهغوي د ښه کېدو په خاطر

**نورو خلکو ته خدمت کول او مرسته کول – داسې یوه موخه دی، چې ډېرو کسانو سره دي. مګر داسې مرستې باید په یوه مسلکي بڼه او کار پوهې لرو سره ترسره شي. په دی توګه تر یو زیات حد سړې نورو سره مرستې کوي، بې له دې نه چې په ځان باندې فشار راوړي.**

**ټولنیز او روغتیایي مرستندوي - SOSU**

د زړو خلکو کور، روغتونونه او موسسې.
SOSU ټولنیز او روغتیایي مرستندوي مانا ورکوي. ټولنیز او روغتیایي مرستندوي د زړو خلکو سره، ناروغانو سره او معلول کسانو سره مرستې، او د هغوي پاملرنې کوي، چې پخپله نشي کولای خپل کارونه ترسره کړي. دوي د پاملرنې کارونه ترسره کوي، د فعالیتونو دپاره پروګرام جوړوي، او ټولنیز- او روغتیایي مرسته کوونکي ته لارښوونې کوي.

"زه د خپل کار څخه بېخي زيات خوشاله يمه. زما ډېر خوښ دي چې نورو خلکو سره کومک کوم، او دوي ته پاملرنه وکړم. زياتره وختونه ماته دا احساس پيدا کيږي، چې زه هم په خپل وار خلکو ته د يو با کيفيته ژوند ورکول په برخه کې يو رول لوبم. پخپله دا زده کړه هم ډېر په زړه پورې ده، ځکه چې بيلابيل مضمونونه ويل کيږي، لکه اروا پوهنې، د ناروغتياوي زده کړي، پاملرنه، ساتنه او نظافت. پرته له دی تا هر کله کولای شي زده کړه ته ادامه ورکړې، د مثال په توګه نرسنګې/ پرستارې. ماته په دی خاطر چې ځادر سره کار ته ځم، هيڅکله د کار په وخت کې کوم ستونزې راته ندې جوړ شوي. همکاران مې ښه خلک دي، او هغې زړو خلکو چې د هغوي پاملرنې کوم مانه ډېر خوشالي دي. ماته ډېره مهمه ده، چې هغوي ماته، او زما عقيدې ته درناوي کوي."
حامده – ټولنیز او روغتیایي مستندوي

**د اعصابو فزیولوژي مرستندوي**

ماغزه، اعصاب او عضلې. د اعصابو د فزیولوژي مرستندوي په توګه ناروغان د میرګي یا د مغزی زیان په خاطر معاینه کوي. مرستندوي د ناروغانو معرفي لیکونه تر لاسه کوي، او ناروغان معاینې دپاره ویشوي، د دوي دوسیې جوړوي او لازمي مالوماتونه په کې لیکي، او همدارنګه د ناروغانو د درمل استعمالول هم په دوسیې کې لیکي. مرستندوي باید وکولای شي، چې ناروغانو سره او د دوی خپلوانو سره اړیکې ټینګ کړي.

**د غاښو کلینیک مرستندوي**

ناروغ سره اړیکې او د غاښو ډاکتر سره مرسته. د غاښو کلینیک مرستندوي په کلینیک کې په هر کار کومک کوي، هم د علاج په وخت کې، هم د غاښو د عکس ایستلو په وخت کې، او هم د اداري کارونو په برخه کې.

**د وترنري نرس**

د ځارویو کلینیک او د ځارویو روغتون. د کار یوه مهمه برخه د پټي تبدلول، او د ځاروي نبض نیول، او د بدن حرارت مالومول دي، تر څو مالومه شي چې آیا ځاروي مخ په ښه کیدو ده که نه. مګر باید نور کارونه لکه معاینې وکړي، او ځینې ټستونه اخلي، د مثال په توګه د وینې ازمایښتونه. د وترنري نرس په توګه په کلینیک کې بیلابیل اداري کارونه هم کوي.

**د ښوونې او روزنې مرستندوي**

ماشومان، ځوانان او مشران. د ښوونې او روزنې مرستندوي، ماشومانو او ځوانانو دپاره ښې امکانات او شرایط برابروي، چې ودې وکړي او وخت هغوي باندې ښه تیر شي. دا کارونو کیدای شي د شیدې خوړونکو ماشومانو په وړکتون کې، په وړکتون کې، په SFO، یا په موسسې کې تر سره شي. زده کړې د ښوونې او روزنې مرستندوي زده کړې نومیږي.

**مثالونه:**
**په لاندنیو کارونه میاشتنې تنخا (منځنې)**

| | | |
|---|---|---|
| SOSU - ټولنیز او روغتیایي مرستندوي | 29.317 | کرون |
| د غاښو کلینیک مرستندوي | 27.904 | کرون |
| د وترنري نرس | 32.461 | کرون |

## د یو تخنیکي او مسلکي زده کړي سره ځوان کولاي شي په لاندنیو برخو کي کار وکړي

## ورکشاپ او مشتري سره اړیکي – تخنیک او میخانیکي

**ورکشاپ یو خاص کارځاي دي. هم خلکو ته باید خدمت وکړي، او هم ماشینونه ترمیم کړي. یو شي چي په ورکشاپ کي ټول په ګډه ورسره علاقه لري، هغه تخنیک و میخانیکي کارونه دي.**

شخصي موټران، بسونه او لاري موټران. د موټرانو د میخانیک په توګه د نقلیه وسیلي برخي بدلوي او زیاتره وخت د کمپیوټر په مرسته سره د موټر خرابي/ نیمګړتیاوي پیدا کوي، تر څو ماشین تنظیم کړي. ځیني په یو ډول موټر پوهاوي لري. ځیني د موټران د چکولو/ سون کولو په برخه کي پوهاوي لري. زیاتره کسان خپل شخصي ورکشاپونه پرانیزي.
زده کړي د شخصي موټران او لاري موټران میخانیک نومیږي.

"زما پلار میخانیک دي، ما هر کله وکولای شو چي هغه سره ورکشاپ ته لاړ شم، او ماته اجازه وو په کارونو ورسره مرسته وکړم. زه نه پوهیدلم چي وروسته د لسم ټولګي څه کوم. له دی امله د میخانیکي ابتدایي پړاو مي شروع کړه. ما یوائې دا هیله کوله چي خدای وکړي دا زما علاقي سره برابره وي، چي له نیکه مرغه همداسي هم وشو.
باید پخپله د پراکټیک ځاي پیدا کړي. ممکن دي چي دا کار سخت وي، بایسکل سره بیلابیل ورکشاپونو ته لاړم، او هغوي څخه مي پوښتنه وکړه، چي شاګرد ته اړتیا لري، او خپل غوښتنلیکونه هغوي ته ورمي کړه. دوه ورکشاپونه ماته وړاندیز ورکړه، او ما دغه ورکشاپ وټاکله."

مس، د موټر میخانیک شاګرد

### د بایسکل میخانیک

ګیر، بریک او ټیر. د بایسکل د میخانیک په توګه د بایسکل پاک کاري، ګیریس ورکول، او د بایسکل مختلفي برخي تنظیمول، د ځیني برخي ترمیم او بدلول، چي د کار نه وتلي دي، سره کار کوي. پریدونکو ته خدمت کوي، د بایسکل فالتو او اضافي شیان، او بایسکلونه خرڅوي. ځیني خپل بایسکل پلورنځي پرانیزي.

### شیشه پلورونکي

د کورونو دپاره کړکی، د موټر شیشي، او عکس دپاره شیشه اي قابونه. د شیشه پلورونکي په توګه هر کار ترسره کوي، مګر سړي کولاي شي په یوه برخه خپل پوهاوي بشپړ کړي. شیشه پلورونکي په نورماله توګه په واړه خصوصي شرکتونه کي کار کوي، یا د خپل شیشه پلورونځي لري. د زیاتره د دغه راز کسان هتی او ورکشاپ یی سره تړلي دي.

### کپي کښ

ترمیم یا بیخي نوي برخي. کله چي نقلیي وسیلي ته د ترافیکي پیښي او یا زنګ وهل له امله په بادي کي کوم زیان ورسیږي، کپي کښ ته اړتیا ده، چي هغي خرابي او راوتلي برخي جوړ، او یا ورته نوي برخي واچوي. د خپل د کار عاید هم ارزوني کوي، او د بیمي شرکتونو ته خبر ورکړي.

### د موټر رنګمال

ترمیمول، رنګ کول او ښکلا. یو زیات شمیر موټرانو رنګ د ټکر یا زنګ وهل له امله زیان من شوي دي. کله چي د ترمیم کار روان دي، مهمه ده موټر سم رنګ وشي.
د موټر رنګمالان یا په رنګمالي ورکشاپونه کي، د کپي کښي په فابریکو کي او یا د موټر په ورکشاپونو کي مقرریږي.

### مثالونه:
### په لاندنیو کارونه میاشتني تنخا (منځني)

| | |
|---|---|
| د موټر میخانیک/ مستري | 32.220 کرون |
| د بایسکل میخانیک | 29.125 کرون |
| شیشه پلورونکي | 30.930 کرون |
| کپي کښ | 32.669 کرون |
| د موټر رنګمال | 30.953 کرون |



## ګډوري مشوري

### د وختی نه يو اړيکي جوړ کړی

"د پلار او مور په توګه خپل اولادونو سره اړيکي، د دی په هکله خبري، چي دوي په راتلونکي کي غواړي څه کاره وشي، د شيدي خوړونکي وړکتون نه څه، چي د هغه څخه مخکي شروع شوي دي.
له دی امله د ښوونځي په موده کي دوی هره ورځ په دی هکله خبري کوي، او نوي خبري ورباندي زياتيږي. د دی په باره کي چي د پلار او مورو په غونډو کي څه باندي خبري وشوه، د کور- ښوونځي په غونډو کي څه خبري وي، او د نورو همصنفيانو پلار او مورو سره اړيکي څنګه وي، خبري کيږي. نه داسي چي لکه دوه ملګري هره ماښام سره کيني او قهوه وڅښي، بلکه د ښي اړيکي جوړول مانا دا ده چي په يو بل باندي باور ولري."



## د يو تخنيکي او مسلکي زده کړې سره ځوان کولای شي په لاندنيو برخو کې کار وکړي

# پيداينبت او پام – يو ځانګړې نتيجه

**کله کله ظاهر او ښکلا ده چې څرګندونکې ده. محصولات بايد رښتنی ښې ولېږي: ښکلي يا بد شکلي، پارونکي يا ډولي. دي بايد يو بل سره سمون وخوري، او د يو محصول پيداينبت دپاره، حوصله او ښه لاس غواړي.**

### د رسنيو طراح

د ليکيني او عکس ګرافيک – د چاپ دپاره يا په انټرنيټ کې. د رسنيو طراح په توګه بايد د تخنيکي او پيداينبت له لحاظه د کار ټول اړخونه، د هغه شيبې نه چې يو اند پيدا کيږي، تر هغه مهال چې کار پای ته رسيږي، کار تر نظر لاندې ولري. تقريباً ټول کارونو په کمپيوټر کې ترسره کيږي. زياتره کسان خپل شرکت لري.

الکس د رسنيو طراح درس ويلي دي. د ده پراکتيک ځای يو غټ ګرافيکي شرکت ده، کله چې د الکس زده کړه پای ته ورسيد، الکس همالته مقرر شول. هغه دلته دوه کاله تير کړل، ترڅو اوسني کار يې واخستله. "زه داسې فکر کوم چې زما کاري حالت ډير په زړه پورې ده، ځکه چې کارونه د پروژې پر بنسټ ترسره کيږي. دلته په شرکت کې د تخنيکي لارو چارې د پرمختګ خبرې ده. ټول تر ټول ګرافيکي کارونه لږ دي." په هغه ځانګه کې چې الکس په کې کار کوي د يو موټی شمير کارکوونکي دي، چې هر يو مختلف مخينه لري، چې پرته د نور کارونو څخه شرکت د ګرافيکي بهير د پرمختګ په برخه کې کار کوي.

### عکاس

انځورونه، د موډ عکس او راپورتاژ. د يو ښه آنځور/ عکس نيولو په خاطر زيات اندونه او انتخاب ته بايد پام وشي. د عکاس په توګه بايد په موخه او لامل، رڼايي او په انځور باندې کار فکر وکړي. دا کار استعداد هم غواړي – او د عکاس په توګه نه يواځې استعداد په کار دي، بلکه د هغه چا نه، چې ورنه عکس اخلي، د هغه باور هم تر لاسه کوي. يو عکاس کولای شي په رسنيو کې مقرر شي، آزاد عکاس وي، او يا خپل عکاسي شرکت پرانيزي.

### د طراحي تخنيکر

ورځپاڼي، مجلې او کتابونه. د طراحي تخنيکر په توګه د چاپولو ماشينونو فعالول، د رنګونو ګډول، او د چاپ پاملرنه او کيفيت په غاړه لري. د طراحي تخنيکر د کار په بهير کې حاضر دي، د چاپ دپاره د آماده کولو شيبې نه نيولې، تر څو محصول بيخي توليد شي.

### لوحه جوړ ونکي

فلز، کاغذ يا پلاستيک. لاس سره يا کمپيوټر سره طراحي کول. لوحه جوړونکي ودانيو دپاره، تبليغاتي اعلانونه موټرانو دپاره، ورګادي دپاره، او بسونو دپاره، لوحي جوړوي، او هغوي ترميموي. د کار يوه مهمه برخه پريدونکو ته مشوري ورکول دي. لوحه جوړونکي د لوحي جوړولو په شرکتونو کې، د تبليغاتي اعلانونو په ځانګې، او يا په خپل شرکت کې کار کوي.

### ګنډونکي

د کالي طرح او نقشه، خولی او پوټکي.
ګنډونکي د طراح د نخشې سره سم کالي ګنډي.
غوښتني دا دي چې موډ سره او نوي تخنيکونو سره ګام ګام مخ ته لاړ شي.
زياتره ګنډونکي خپل ګنډونکي هټی لري.

### مثالونه:
### په لاندنيو کارونه مياشتني تنخا (منځني)

| | | |
|---|---|---|
| د رسنيو طراح | 31.761 | کرون |
| عکاس | 34.747 | کرون |
| د طراحي تخنيکر | 35.706 | کرون |
| لوحه جوړونکي | 28.509 | کرون |
| ګنډونکي | 21.492 | کرون |

## د یو تخنیکي او مسلکي زده کړي سره ځوان کولاي شي په لاندنيو برخو کي کار وکړي

## کلمي، عددونه ... او د کمپيوتر تخنيک

**د متن ليکل، صورت حساب، محاسبه او د کمپيوتر د پروسسر او ابزارونه اداري، او په کار اچول. د دغه کار پسي هغه کسان دي، چي کولاي شي د کمپيوتر څخه کار واخلي، او هم د خپل مسلکي پوهاوي په برخه ځه پوهيزي. له دی امله دوي کولاي شي ښه خدمتونه، او همدارنګه د کار په ځاي کي اينترنت وړاندي کړي.**

**د دفتر کارمند**

بودجي، صورت حساب، ليکي او ليکنه. د دفتر کارمند په توګه بايد وکولاي شی چي د کمپيوتر نه په عادي توګه کار واخلي، او په سم ليکل او د اعدادو سره په کار کي تکړه وي. په دفتر کي کار کول پاملرنه، او خپلواک کار کول غواړي، او سړي بايد په مينځګړيتوب کي تکړه وي.

د دفتر کارمند کارونه ډير زيات بيلابيل دي – دا د موسسي د کاري کارپوهي پوري اړه لري.
زده کړي د دفترداري زده کړي نوميږي.

آنيا 23 کلنه ده، او د محاسب په توګه فکتورونه، ضميمي، جريمي او نور کاغذي کارونه سره اخته ده. د کار يو ستره او مهمه برخه پيريدونکو او همکارانو سره اړيکي تينګول دي. د آنيا په نظر د کار ګډوالي ډير په زړه پوري ده. آنيا په حساب او محاسبه کي په خاص ډول تند او سرتيمبه ده – ژبه او سم ليکل/ املا د هغه قوي اړخ نده، په هم دی وجه دا بيخي عادي وه، چي هغه په ځانګړي توګه مالي رشتي وټاکله. په رښتيا يو مهال آنيا دی ته سوچ کوله چي نور زده کړي وکړي، مګر پخپله دی نتيجي ته ورسيده، چي هغه اوس نور زده کړي ته دومره زيات علاقه نلري. هغه غواړي يو څو موده وروسته نوري زړه کړي وکړي. "زما د تره زوي هم په دفتر کي کار کوي، هغه نه مي پوښتنه وکړه چي شاګردي د زده کړي دپاره څنګه وو، هغه راته وويل، چي يا بايد قهوه جوړ کړي او يا هماالته کرار کيني. هغي خبرې چي هغه وکړه، راته ډير په زړه پوري وو. "

**عمده پلورونکي**

خرڅلاو، پيرودل او لوژستيک. هغه چا چي د سوداګرۍ په رشته کي زده کړه کړي دي، کولاي شي په زياترو برخو کي چي سوداګري سره تړلي دي، د عمده پلورنکي په توګه کار وکړي، په ځانګړي توګه سوداګري د موسسي تر مينځ. عمده پلورونکي کولاي شي د خپل موسسي محصولاتو ته ارزښت لاس ته راوړي، او خدمتونه وړاندي کړي، له دی امله شيان په ګټه سره پيرودل کيږي.
يو چا چي د سوداګري په رشته کي زده کړه کړي ده، کولاي شي چي په سوداګري موسسي کي مقرر شي، او يا خپل موسسي پرانيزي. زده کړي د سوداګري زده کړي نوميږي. -

**د روغتيايي چارو سکرتر**

ډاکتران، فزيوتراپان او کروپراکتران. د روغتيايي چارو سکرتر په دغو ځايونه کي، په روغتيايي برخو کي دفترداري کارونه، او عملي کارونه ترسره کوي. ټيلفونونه پورته کوي، ناروغانو ته وخت ورکوي، او مراجعينو ته ښه سرويس ورکوي.

**مثالونه:**
**په لاندنيو کارونه مياشتني تنخا (منځني)**

| | |
|---|---|
| د روغتيايي چارو سکرتر | 25.598 کرون |






## ګټوري مشورې

### مالومات ولټوئ

"تیرکال مونږ څلورو ثانوي ښوونځیو ته د هغوي د مالومات ورکولو مابنامو ته لاړو، هغه ځایونه مو وکتل، څانګي او استاذانو مو ولیدله. سمیز جریدي ته مو پام وو، او مونږ ته پته وو چي اوس راځي او وختونه په خپلو کلیزو کي ولیکه.
مونږ بلا سنتر کي د زده کړو نندارتون ته هم لاړو."

# ثانوي زده کړه او Hf –
# د نور زده کړي دپاره چمتووالی

## ثانوي زده کړه هغه ځوانانو دپاره دي، چي غواړي يو لوړ زده کړي وکړي

**ثانوي زده کړي لاندیي زده کړي دي:**

- (Htx) تخنيکي او مسلکي زده کړي (3 کال)
- (Hhx) سوادگري زده کړي (3 کال)
- (Stx) ثانوي ښوونځي (3 کال)
- (Hf) د پوهنتون د داخليدو نه مخکي چمتووالي (2 کال)

ثانوي زده کړو، ځوانان، د يو لنډ مودي او يا اوږد مودي لوړوزده کړو دپاره ، لکه د چاپيريال تکنالوژی، د کمپيوتر کار پوهه، ښوونکي، نرس، اقتصاد پوهه يا انجنير، دپاره آماده کوي.

مگر يو ثانوي زده کړه هميشه هغه لوړ زده کړي دپاره چي يو چا هيله لري په کي جذب شي، کفايت نکوي. هغي مضمونونه او سطح چي سړي ټاکي، کولای شي په هغه زده کړو باندي اغيزي وکړي، چي په کومو کي د مستقيم جذبيدو امکان يی شته. او که په ثانوي دوري کي لوړي نمري تر لاسه کړي، د جذبيدو چانس يي هم زيات دي. سخت زيار ايستل او آمادگي غواړي.

**زيات کورنی کارونه**

ځوان بايد دی ته آماده وي چي زيات کورنی کارونه لری. ځوانان بايد هر ورځ خپل سبقونه ووايي. پرته له دی د زده کړي په دوره کي ځوانان بايد يو لړی ليکني وظيفي هم تسليم کړي. د پلار او مور په توگه بايد دی ته چمتو وي، چي ځوان بايد د کورنی کارونو دپاره وخت او آرامتيا ولري.

**مضمونونه**

ثانوي دوري زده کړي، د يو لړی جبري مضمونونه، د زده کړي رشتي او ټاکني مضمون څخه جوړ شوي دي. مضمونونه بيلابيلي دي، او دی پوري اړه لري چي کوم ثانوي رشتي يي ټاکلي يي. درس او امتحان په بيلابيلي سطحي مخ ته ځي. دا هم يوه غوښتنه ده، چي په يو ثانوی دوري کي د زده کړه په هره رشته کي بايد څو مضمون په مختلفو سطح ولري.

**درس او نور فعاليتونه**

پرته له عادي درسونو څخه، زده کړي گرځيدنه هم د زده کړي يوه مهمه برخه ده. په زده کړي گرځيدونو کي، پرته د نورو شيانو نه، همکاري کول زده کيږي. همدارنگه زده کوونکو دپاره گډه پروگرامونه جوړيږي، لکه تياتر ته تلل، موزيم کتل او ورځني ويناوي کي گډون. مهمه ده چي په ټولو فعاليتونو کي برخه واخلي.

**د جذبيدو طريقه**

د htx، hhx يا stx جذبيدو دپاره بايد لاندني شرطونه بشپړ وي:

- د ښوونځي نهم يا لسم ټولگي يي پاي ته رسولي، يا د هغه معادل سويه درس ويلي وي،
- وروسته د نهم يا لسم ټولگي نه راسآ د جذبيدو غوښتنه کړي وي،
- د ښوونځي آخرنی اجباري امتحانونه مو تير کړي وي، د دوو تر څلور کالو پوري فرانسوي يا آلماني ژبي
- د امتحان آمادگي سره تير کړي وي، حال دا چي که دا درسونه ټاکل شوي وي، بايد امتحان مو هم تير کړي وي،
- د زده کړي د چمتووالي له لحاظه بايد ارزوني وشي (لسم پاني وگوری).

**مالي حالات**

ځوانان د 18 کالو نه جگ کولای شي د SU غوښتني وکړي.

د SU په هکله په دغه ويبپاڼي کي ولولي: ug.dk.

## Htx (تخنيکي او مسلکی رشتي ديپلوم)

**Htx هغه ځوانانو دپاره ده، چي تخنيک او طبيعي علوم سره علاقه لري. Htx په ځانګړي توګه تخنيکي لوړو زده کړو دپاره لاري پرانيزي، لکه د انجنيرۍ په زياتو رشتو کي.**

Htx د يو شپږ مياشتي ابتدايي دوري څخه، او يو دوه نيم کلن زده کړي رشتي دوري څخه جوړ شوي دي. Htx په يو تخنيکي ثانوي ښوونځي کي ويل کيږي.

### ابتدايي دوري

آبتدايي دوري ټولو شاګردانو ته ګډ دي. په دغه دوره کي شاګردان يو لړۍ مضمونونه او د زده کړي تګلاري زده کوي، چي وروسته د خپل زده کړي په بهير کي ورنه ګټه واخلي.

### زده کړي رشته او مضمونونه


وروسته له ابتدايي دوري نه شاګردان بايد خپل زده کړي رشتي وټاکي، چي دوه نيم کال دوام مومي. يو زده کړي رشته د دري مضمونونه، چي په يوه رشته کي راټول شوي، جوړ شوي دي. مضمونونه يو بل سره اړيکي لري، او مسلکي رشتي روښانه وي، چي زده کړي درجه په کي څرګند شوي دي.

زده کړي رشته کيداي شي چي د يو ثانوي ښوونځي څخه تر بل ثانوي ښوونځي پوري توپير ولري، مګر ټول زده کړي د طبيعی علوم، تکنالوژي، مخابرات يا روغتيا کي دننه ده.
هغه شاګردان چي يو زده کړي رشتي ټاکلي دي، په يو ټولګي کي ځي.

پرته له زده کړي رشتي مضمونونه، اجباري درسونه هم ويل کيږي، لکه ډنمارکی، انګريزی، رياضي او تخنيکي مضمون.

همدارنګه شاګردانو ته د ټاکني مضمون درس هم ورکول کيږي، لکه سوادګرۍ اقتصاد، د پروګرامونو طراحي او فرانسوي ژبه.
د تخنيکي ثانوي ښوونځيو په ويبپاڼو کي کولای شي ووينی، چي ثانوي ښوونځيو کوم زده کړي رشتي، او ټاکني مضمونونه وړاندي کوي.

> د دغه زده کړي مضمونونو او محتوا په هکله، او د هر ښوونځي لينکونه په دغه ويبپاڼي کي پيدا کړی: ug.dk.





## Hhx (د سوداګرۍ رشتي ډيپلوم)

**Hhx هغه ځوانانو دپاره ده چې سوداګرۍ، اقتصاد او ژبې سره علاقه لري. هغه ځوانان چې غواړي د سوادګرۍ په چارو يا په مالي او اقتصادي نړۍ کې کارير ولري، ښه دي چې د يو سم شروع په توګه، د همدغه ځاي نه پيل کړي. وروسته د ثانوي دورې څخه کولای شي د لوړي زده کړې غوښتنې وکړي.**

Hhx د يو شپږ مياشتي ابتدايي دوري نه او يو دوه نيم کلن زده کړي رشتي دوري نه جوړ شوي دي. Hhx په يو سوداګرۍ ثانوي ښوونځي کې ويل کيږي.

### ابتدايي دوري

آبتدايي دوري ټولو شاګردانو ته ګډ دي. په دغه دوره کې شاګردان يو لړۍ مضمونونه او د زده کړي ټګلاري زده کوي، چې وروسته د خپل زده کړي په بهير کې ورنه ګټه اخلي.

### زده کړي رشته او مضمونونه

وروسته له ابتدايي دوري څخه شاګردان بايد خپل زده کړي رشتي وټاکي، چې دوه نيم کال دوام مومي. يو زده کړي رشته د دري مضمونونه، چې په يوه رشته کې راټول شوي، جوړ شوي دي. مضمونونه يو بل سره اړيکي لري، او مسلکي رشتي روښانه وي، چې زده کړي درجه په کې څرګند شوي دي.

زده کړي رشته کيداي شي چې د يو ثانوي ښوونځي څخه تر بل ثانوي ښوونځي پوري توپير لري، مګر ټول زده کړي د اقتصاد، بازار موندل او نړيوال حالات کې دننه ده.

هغه شاګردان چې يو زده کړي رشتي ټاکلي دي، په يو ټولګي کې ځي.

پرته له زده کړي رشتي مضمونونه، اجباري درسونه هم ويل کيږي، لکه ډنمارکی، پردۍ ژبه، رياضي او د فعال اقتصاد مضمون.
همدارنګه شاګردانو ته د ټاکني مضمون درس هم ورکول کيږي، لکه داتالوژي/ د کمپيوتر علم، فلسفه او پانګي اچوني.

د سوادګرۍ ثانوي ښوونځيو په ويبپانو کې کولای شي ووينې چې ثانوي ښوونځيو کوم زده کړي رشتي او ټاکني مضمونونه وړاندي کوي.

د د زده کړي مضمونونو او محتوا په هکله، او د هر ښوونځي لينکونه په دغه ويبپاني کې پيدا کړئ: ug.dk

## ثانوي زده کړه او Hf – د نور زده کړي دپاره چمتووالی

## Stx - ثانوي ښوونځي

**Stx ځوانانو ته د تاریخ، کلتور، طبیعي علوم او ټولنیز حالات په هکله یو ښه پوهاوي ورکوي.**
**Stx د یو لوړ زده کړي انتخاب دپاره بنسټ دي، خو مګر موخه یي د کوم خاص رشتي انتخابول نه دي.**

د یو شپږ میاشتي ابتدایي دوري نه او یو دا زده کړي دوه نیم کلن زده کړي رشتي دوري نه جوړ شوي دي.

**ابتدايي دوري**

ابتدایي دوري ټولو شاګردانو ته ګډ دي. په دغه دوره کي شاګردان یو لړئ مضمونونه او د زده کړي ټګلاري زده کوي، چي وروسته باید د ثانوي ښوونځي په دوره کي ورنه ګټه واخلي.

**زده کړي رشته او مضمونونه**

وروسته له ابتدایي دوري نه شاګردان باید خپل زده کړي رشتي وټاکي، چي دوه نیم کال دوام مومي. یو زده کړي رشته د دري مضمونونه، چي په یوه رشته کي راټول شوي، جوړ شوي دي. مضمونونه یو بل سره اړیکي لري، او مسلکي رشتي روښانه وي، چي زده کړي درجه په کي څرګند شوي دي. هغه شاګردان چي یو زده کړیي رشتي ټاکلي دي، په یو ټولګي کي ځي. زده کړي رشته کیداي شي چي د یو ثانوي ښوونځي ځخه تر بل ثانوي ښوونځي پوري توپیرولري، مګر ټول زده کړي د طبیعي علوم، ټولنیزعلوم یا بشري علومو/ ژبي کي دننه ده.

پرته له زده کړي رشتي مضمونونه، اجباري درسونه هم ویل کیږي، لکه ډنمارکی، تاریخ، پردی ژبه او ریاضي. همدارنګه شاګردانو ته د ټاکني مضمون درس هم ورکول کیږي، لکه اروا‌پوهني/سیکالوژي یا موزیک.

د ثانوي ښوونځیو په ویبپاڼو کي کولاي شي ووینې چي ثانوي ښوونځیو کوم زده کړي رشتي او ټاکني مضمونونه وړاندي کوي.

> د د زده کړي مضمونونو او محتوا په هکله، او د هر ښوونځي لینکونه په دغه ویبپاڼي کي پیدا کړئ: ug.dk.

## ګټوري مشوري

### خپل ځوان خبرو ته غوږ نیسئ

"پلار او مور باید وپوهیږي: دوي باید د خپل اولادوونو د ژوند یوه برخه وي. دوي باید غوږ ونیسي، او باید د خپل اولادوو په کیسي او افساني کي ژوند وکړي، او د اولادو هر کله انتقاد او سمول پریږدئ. دا کار اولادو ځوروي.





# ثانوي زده کړه او Hf – د نور زده کړي دپاره چمتووالی

## Hf (د پوهنتون د داخلیدو څخه مخکي چمتووالي)

**Hf هغه ځوانانو دپاره دي چي علاقه لري یو پراخ نظري زده کړي وکړي. Hf د لوړو زده کړو امکانات برابروي، مګر په لنډو او مینځنیو زده کړو کي، لکه پیداګوګ، ښوونکي او نرس. Hf په یو ثانوي ښوونځي چي Hf لري، یا په یو Hf کورس او یا په VUC کي ترسره کیږي.**

Hf دوه کال نیسي.

### مضمونونه

یو لړ جبري مضمونونه درس ورکول کیږي، لکه ډنمارکی، پردی ژبه اوټولنیز مضمون. د دی نه پرته باید تر ځلورو مختلفو مضمونونه انتخاب کړي.

### د داخلیدو غوښتني

باید:

- د لسم ټولګي ډنمارکی، انګریزی او ریاضی امتحانونه تیر کړي وي،
- د ښوونځي آخریني امتحان دي تیر کړي وي، یا د لسم ټولګي فیزیک او کیمیا امتحانونه تیر کړي وي،
- د دوو تر ځلور کالو پوري فرانسوي یا آلماني ژبي د امتحان آمادګي سره تیر کړي وي، یا د ښوونځي آخریني امتحان دی د پوچي اچوني د لاري تیر کړي وي، یا د لسم ټولګي امتحان دی تیر کړي وي.
- د لسم ټولګي نه وروسته راسأ د جذبیدو غوښتني وکړي.
- د زده کړه دپاره آماده وي.

### غټانو دپاره Hf

سره له دي نه چي د ښوونځي د پاي نه څو کاله تیر شوي، خو بیا هم امکان یي شته چي hf د یو جلا مضمون په توګه پیل کړي. دا په دی مانا ده چي هر وار یو مضمون واخلي او په پاي کي ټول مضمونونه نیولي، او تاسي ته د hf زده کړي درجه ورکول کیږي.

د د زده کړي مضمونونو او محتوا په هکله، او د هر ښوونځي لینکونه په دغه ویبپاني کي پیدا کړی: ug.dk.





# زده کړه دپاره نوري زده کړي او چمتووالي

ځيني خوانان يو تخنيکي او مسلکي زده کړي دپاره او يا ثانوي زده کړي دپاره آماده نه دي. دوي ته نور امکانات شته دي. لاندي پاني وګورى.

پام وکړي چي په ځينو ددغي زده کړوغوښتني کيږي، چي د ځوانانو د زده کړي ټاکني لاربنود بايد پريکړي وکړي، چي آيا دغه ځوان کيداي شي جذب شي که نه.

## توليدي ښوونځي

**توليدي ښوونځيو هغي درسونه وړانديز کوي، چي بنسټ يي په عملي کارونه او توليد ولاړ دي – امکان لري چي د ښوونځي معمولي درسونه هم ورسره ګډ شي.**

**توليدي ښوونځی، هغو ځوانانو دپاره دي، چي تر اوسه پوري چمتو ندي، چي ځوانانو دپاره يوه عادي زده کړه پيل کړي.**

درس بايد د ځوان شخصي ودي غښتلي کړي، او د يو زده کړي په پاي ته رسولو کي، او د کار پيدا کولو په برخه کي د دوی امکانات ښه کړي.
وروسته د توليدي ښوونځي کولاي شي پخپله وټاکي، چي غواړي يو تخنيکي او مسلکي زده کړي وکړي، او يا کوم نوري د ځوانانو دپاره زده کړي کوي.

### درس

درس هر ځوان دپاره په جلا توګه پلان کيږي. درسونه د عملي کارونه په دغو برخو کي لکه ماهر کارګر، کرهني، موزيک او د کمپيوتر تخنيک په يو ورکشاپ کي مخ ته ځي. دلته عملي کارونه، نظري درسونو سره ګډيږي. پرته له دی ځوانانو ته نور عادي درسونه هم ورکول کيږي، تر څو هغوي د ځوانانو دپاره يو زده کړي د پيليدو دپاره آماده شي.

تر يو دريمي برخي د يو توليدي ښوونځي دوري په نورو ښوونځيو کي درس ورکول کيږي. د مثال په توګه دا کيداي شي يو معمولي مضمون په VUC کي تدريس شي، يا د ابتدايي دوري څو برخي په يو تخنيکي او مسلکي ښوونځي کي ترسره شي. په يوه موسسه کي د پراکتيک امکان هم شته.

### مالي حالات

په توليدي ښوونځي کي د ښوونځي مالي مرسته ورکول کيږي.

### د جذبيدو طريقه

- توليدي ښوونځيو ځوانانو ته تر 25 کلني پوري درس ورکوي، کوم چي تر اوسه پوري د ځوانانو دپاره کوم ځانګړي زده کړي ندي کړي، او مالوميږي چي د داسي يو زده کړي د پيل د پاره هم شرطونه ندي پوره کړي، يا د خوانانو دپاره کوم زده کړي نيمګړي پاتي شوي ده،
- نهم ټولګي بايد پاي ته رسولي وي، يا په يو بل ډول خپل اجباري درس دوري پوره کړي وي،
- ځوان کولاي شي راسآ په توليدي ښوونځي کي د جذبيدو غوښتني وکړي.
- د ځوانانو د زده کړي ټاکني لارښود بايد ومني، چي دغه ځوان هغه ډلي ته اړه لري، چي توليدي ښوونځي ورته مناسبه ده.

که ځاي وي، کولاي شي د کال په هر مهال پيل کړي. زياتره تر يو کال پوري توليدي ښوونځي ته تلاي شي.

د توليدي ښوونځيو ليست په دغه ويبپاڼي کي ووينئ: produktionsskoler.dk.




Peak
Performance
86

## زده کړه دپاره نوري زده کړي او چمتووالي

## Egu - ابتدايي تخنيکي او مسلکي زده کړي

**Egu هغه ځوانانو دپاره ده، چي غواړي يو تخنيکي او مسلکي زده کړي وکړي، مګر دوي د عملي کارونو له لاري ښه زده کوي. د زده کړي دوري مخکي له مخکي د عملي کارونه پر بنسټ ولاړ دي، او په ښوونځي کي د درسونو او د پراکتيک دوري تر مينځ بدليږي. په عادي توګه دا زده کړه دوه کاله نيسي، په ځينو خاصو حالاتو کيداي شي، پراکتيک يو کال دپاره نور هم اوږدي شي.**

ځوان يو لارښود سره خپل د زده کړي پلان جوړوي. لارښود د زده کړي په ټول دوره کي ځوان په درسو کي تعقيبوي، او که کوم ستونزي پيدا شوه، هغه سره کومک کوي.

Egu سره ځوان کولاي شي چي د کار غوښتني وکړي، يا نور زده کړي وکړي.

### پراکتيک

پراکتيک دوري کيداي شي په يو يا څو ځايو کي ترسره شي، لکه په يو هټی کي، يو کانتين کي يا په يو ورکشون کي. همدارنګه پراکتيک کيداي شي په يو پراکتيک ورکشاپ کي په يو تخنيکي ښوونځي کي، په يو توليدي ښوونځي کي، او يا دغه راز ځايونو کي ترسره شي.

مسلکي ساحي لکه لاندني ځايونه به يي:

- موټر او فلز
- هټی او دفتر
- آشپزخاني او کانتين
- وداني او تاسيسات
- ښووني- روزني او پاملرني

### په ښوونځي کي درس

ځوان ټول ترټول په ښوونځي کي د 20 تر 40 هفتي تيروي. درسي مواد د مثال په توګه د تخنيکي او مسلکي ښوونځيو او د AMU کورسونو نه راوړل کيږي، کيداي شي چي درسونه په توليدي ښوونځيو، لوړو ښوونځيو يا په VUC کي تدريس شي.

د اړتيا په حالت کي، که چا اضافي مالي مرستي ته، او درسي مرستي ته اړتيا لري، امکان يي شته چي تر لاسه کړي.

### د جذبيدو طريقه

تخنيکي او مسلکي زده کړي هغه ځوانانو دپاره ده، چي تر دا مهال و نشو کولاي، چي د ځوانانو دپاره کوم بل زده کړي پيل کړي. جذبيدو دپاره کوم خاص غوښتني نشته. ځوان بايد د 30 کال نه لاندي وي.

ځوان بايد د ځوانانو د زده کړي ټاکني لارښود ته (UU)، يا کمون jobcenter ته مراجعه وکړي.

### مالي حالات

د پراکتيک په دورو کي شاګردي تنخا، او د ښوونځي په دورو کي د ښوونځي مالي مرسته ورکول کيږي.

# زده کړه دپاره نوري زده کړي او چمتووالي

## ځوانانو دپاره ګډي زده کړي

**ځوانانو دپاره ګډي زده کړي يوه نوي زده کړه ده، هغه ځوانانو دپاره چي تر اوسه پوري چمتو نه دي، چي يو ځوانانو دپاره ثانوي دوري يا تخنيکي او مسلکي زده کړي پيل کړي.**

دا زده کړي کيداي شي تر دوو کالو پوري دوام ومومي، دا امکان هم شته چي لندي شي. درسونه په هغو رشتي کي دي، چي د ځوانانو چانس کار پيدا کولو دپاره د هغوي په سيمه کي زياتوي. همدارنګه دغه زده کړي ځوانانو دپاره د يو معمولي زده کړي بنسټ ايښي، لکه په يوه تخنيکي او مسلکي زده کړه کي.

دغه زده کړه په لاندنيو کاري ساحو په نظر کي نيول شوي دي، لکه:

- خواړه او روغتيا
- مخابرات او رسني
- خدمتونه او ترانسپورت
- بياجوړوني او د محصولاتو پرمختګ
- ودانۍ جوړول او کور
- ماشين او ميخانيک
- ګرځندوي، کلتور او آزاد وخت
- چاپيريال او بيا ګټه اخستني
- ماشومان، ځوانان او زاړه خلک
- سوداګرۍ او د پيريدونکي خدمتونه

د زده کړي د پيل په مهال ځوان بايد د 25 کلني نه لاندي وي. ځوان په زده کړه کي د ځوانانو د زده کړي ټاکني لاربنود/UU په وسيله جذبيږي.

### STU - د ځوانانو زده کړي دپاره خاص چمتووالي

که ستاسي اولادو کوم خاص اړتيا لري، هغه هلک/ نجلۍ کولاي شي يو دري کلن ځوانانو دپاره زده کړي امکانات تر لاسه کړي. دا په هغه حالت کي دي، چي ستاسي اولادو د ودي له لحاظه نيمګړتياوي ولري، يا د ارواي او يا د جسمي له لحاظه معيوبه ده، او دغي نيمګړتياوي د دي باعث ګرځيدلي، چي هغه هلک/ نجلي و نه شي کولاي يوه معمولي زده کړه ترسره کړي.

زده کړه هر يو ځوان دپاره په جلا توګه د هغه د توان او علاقي سره سم جوړيږي. د زده کړي د پيل په مهال ځوان بايد د 25 کلني نه لاندي وي.

د دغه کار موخه د ځوان شخصي ودي تشويقول، او ځوان ته د يو خپلواک او فعال ژوند امکانات ښه کول دي.

ځوان په زده کړي کي، د ځوانانو د زده کړي ټاکني لاربنود/UU په وسيله جذبيږي.





## زده کړه دپاره نوري زده کړي او چمتووالي

## AVU - غټانو دپاره معمولي زده کړي

**ځوانان چې 18 کلني يي بشپړ کړي دي، کولای شي يو يا څو مضمون د ابتدايي ښوونځي په سويه د هيواد په يو د غټانو دپاره معمولي زده کړي په ښوونځيو VUC کي درس ووايي. ښايي سړي غواړي په يو مضمون کي ښه شي، ښايي سړي يو لړۍ مضمونونه ووايي چې وکولای شي په Hf کي جذب شي.**

**مضمونونه**

د هيواد په ټولو د غټانو دپاره زده کړي په مرکزونو کي لاندي مضمونونه وړاندي کيږي:

- ډنمارکي
- ډنمارکي د دوهمي ژبي په توګه
- انګريزي
- رياضي
- طبيعي علوم
- تاريخ او ټولنيز مضمون
- آلماني او/ يا فرانسوي

پرته له دی، دا مرکزونه ټاکني مضمونونه هم وړاندي کوي.

د امتحانونو ارزښت د ښوونځي د نهمي ټولګي آخريني امتحان سره برابره ده، او نوري زده کړي رشتي ته د داخليدو امکانات هم يو شان دي.

د هغي مضمونونه چې په کي درس وايي، بايد پيسي ورکړ شي. که يو لړشرطونه پوره کړي، کولای شي د SU غوښتني وکړي.

د SU په هکله د ug.dk په ويبپاني کي ولولی.





PASHTO
پښتو

# خپل اولادو سره خبري وکړئ
# - نورو والدینو ته د والدینو ګټوري مشوري

1 - د خپل اولادو هیلي ومنئ
2 - واضح پوښتني وکړي
3 - پوښتنه وکړئ: په کوم شیانو کي ښه یي؟
4 - پوښتنه وکړئ: پنځه کاله وروسته چیري یي؟
5 - خپل اولادو خبرو ته غوږ نیسئ
6 - ښي اړیکي جوړ کړئ
7 - مالومات ولټوئ

د پوهني وزارت 2015 م کال